IslamHouse.com

Osoul Center



Pashto

پښتو

# د توحيد په وضاحت كښي څلور بنيادي اصول

عبد الرحيم سلطان

# شرح
# القواعد الأربعة

عبد الرحيم سلطان

PASHTO
بشتو

ⓒ المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالربوة، ١٤٤١هـ

**فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر**

خان، عبدالرحيم سلطان

شرح القواهد الأربعة: اللغة البشتو . / عبدالرحيم سلطان خان. - الرياض، ١٤٤١هـ

١٠٤ ص، ١٢سم x ١٦,٥سم

ردمك : ٤-٧٣-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨

١- العقيدة الإسلامية ٢- التوحيد. أ. العنوان

**ديوي ٢٤٠ ١٤٤١/١٦٨٦**

**رقم الايداع: ١٤٤١/١٦٨٦**

**ردمك : ٤-٧٣-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨**

مركز أصول
Osoul Center

أُعد هذا الكتاب وصمِّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+٩٦٦ ١١ ٤٤٥ ٤٩٠٠
+٩٦٦ ١١ ٤٩٧ ٠١٢٦
ص. ب. ٢٩٤٦٥ - الرياض ١١٤٥٧
osoul@rabwah.sa
www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم



# دمضامينو فهرست


| | |
|---|---|
| دکتاب مضامين | ۷ |
| دشارح مقدمه | ۹ |
| دمؤلف مقدمه | ۱۳ |
| د (الکريم) معنی او مفهوم | ۱۷ |
| د (العرش) معنی اومفهوم | ۱۹ |
| دعلم معنی اومفهوم | ۲۵ |
| درشد تعريف | ۲۷ |
| دملت معنی | ۳۱ |
| عبادت په قران اوحديث کښې | ۳۵ |
| دقاعدې معنی | ٤٥ |
| اول اصل اوقاعده | ٤٩ |
| دوهم اصل اوقاعده | ٦۱ |
| دريم اصل اوقاعده | ۷۷ |
| څلورم اصل اوقاعده | ۹۱ |



# دشارح مقدمه

الحمد لله رب العالمین، والصلاة والسلام علی سید المرسلین، نبینا محمد وعلی آله وصحبه أجمعین، أما بعد:

دټولونه بهتر هغه شی په کوم کښې چه سبقت او مقابله کونکي مخکوالی کوي او دانسان دسعادت نیک بختۍ او په اخرت کښې دکامیابۍ لپاره کفیل اوضامن دی، اوانسان ته دسمې لارې رهنمايي کوي، نو هغه علم نافع (فا ئده مند علم) او عمل صالح (نیک عمل) دی، د دي دواړو (علم نافع اوعمل صالح) نه بغیر دانسان سعادت ممکن ندی کوم انسان ته چه دا دواړه څیزونه (علم نافع اوعمل صالح) ملاو شو بس په حقیقت کښي همدغه شخص کامیاب اوخپل مراد ته ورسیده، اوکوم انسان چه له دي دواړونه محروم شو نو په حقیقت کښي دغه شخص دهرخیر نه محروم اونا مراده شو، ځکه چه په حقیقت کښي همدغه دوه څیزونه (علم نافع اوعمل صالح) دانسان دکامیابۍ اوناکامۍ بنیاد دی، او په همدې سره ښه اوبد متقي اوګمراه ظالم اومظلوم معلومیږي، هرکله چه داخبره واضحه اومعلومه شوه چه علم اوعمل د یوبل سره لازم اوملزوم دي اودعلم مقام اومرتبه دمعلوم اوعمل په وجه باندي اوچتیږي. پس په ټولو علومو کښي د علم توحید مقام اومرتبه اوچته ده ددي وجې نه

علماء کرامو په خپله زنده ګۍ کښې دعلم توحید ډیر اهتمام کړیدی، او د توحید په باره کښې یې هر قسم مختصراو تفصیلي کتابونه لیکلي دي په دغه علماء کرامو کښې د امام محمد بن عبد الوهاب (رحمه الله) نوم هم روښانه دی، ده په خپله زمانه کښې داسي دور لیدلی دی، په کوم کښې چه داسلام کړی ما تیدلې او دستورو عبادت کیدلو دقبرونو او مزارونو تقدیس اوتعظیم شروع وو، اوپه قبرونو باندي یې مسجدونه اومزارونه جوړ کړي وو، او د دغه مزارونو عبادت کیدلو، او د ژوند په ټولو مهمو کارونو کښې به دغه قبرونو او مزارونو ته توجه کیدله، په داسي ما حول کښې امام محمد بن عبد الوهاب (رحمه الله) خپل اصلاحي کو ششونه تیز کړل، او دالله جل جلاله لپاره او دهغه دکتاب او دهغه رسول او دټولو خلکو دخیر خواهۍ لپاره یې اعلان وکړه، اودانبیاء کرامو په منهج با ندي یې دالله جل جلاله توحید اوعبادت طرف ته خپل دعوت شروع کړه او خلک یې دشرک او د ټولو وسائلو شرکیه نه منعه کول.

امام محمد بن عبدالوهاب (رحمه الله) ددعوت په میدان کښې خپل ټول کوششونه جاري وساتل، او دحق دعوت لپاره یې ټول هغه اسباب او ذرائع استعمال کړل کوم چه درب درضاکولو سبب ګرځیدلو، لکه تصنیف تالیف شو، تعلیم او تربیت شو، خط اوکتابت شو، د امام محمد بن عبد الوهاب (رحمه الله) دجمله تصانیفو نه یو مشهور کتاب القواعد الاربعة ـ دی، چه داختصارسره سره ډیر اهم اوپائده مندکتاب دی، څکه چه په دیکښې دتوحید متعلق دډیرو مهمو اوبنیادي مسائلو علاج ذکردی، یو

ددغه مهمو مسائلو څخه دالله جل جلاله سره د اولياء او صالحينو دشرک فتنه ده، مشرکين دالله جل جلاله سره اولياء او صالحين شريکوي.

ددي مسئلي وضاحت مؤلف رحمه الله په علم فکر او تدبر سره دقران او صحيح احاديثو په رڼا کښي کړيدی، په داسي طريقې سره چه موحد ته، د عقيدې په باب کښي د هر قسمه بيمارۍ نه نجات ورکوي، او حق طلب کونکو ته صحيح رهنما يي کوي، ګمراهانو او فسا ديانو ته وا کي وراچوي (داسي دلايل يي ذکر کړيدي دي چه ګمراهان او فساديان چپ کوي.

الله جل جلاله ماته ددي کتاب د شرحې کولو باربار توفيق رانصيب کړو، بعضې ورونو (طلبة العلم) ددي شرحې تحسين وکړه او په کتابي شکل کښي يي عام منظر ته د وړاندي کولو مشوره راکړه، نو ما هم دعامو خلکو دفائدې لپاره دپوره سوچ او فکر نه بعدپه دي شرحه کښي څه حذف او اضافه وکړه او ورته مي کتابي شکل ورکړو کوم چه ستا سو په وړاندي موجود دی، ما په دي شرحه کښي درميانه لار اختيار کړيده، د ډير تفصيل او ډير اختصار نه مي اجتناب کړيدی، او ددي شرحي دمتن لپاره مې د هغه کتاب (القواعد الاربع) متن غوره کړيدی، کوم چه په (کال ۱۳۷٤ هجري) کښي په ضمن د المجموعه العلميه السعوديه کښي شائع شوی وو، او دهغه دقلمي نسخي تصحيح علامه شيخ محمد بن ابراهيم رحمه الله کړيده په اخر کښي زه دخپلو مشائخو شکر ګذاريم چاچه د دي شرحي مراجعه کړيده او مونږ ته يي مفيدي مشوري راکړي خصوصا دشيخ عبد الله بن محمد الغنيمان او ډاکټر عبد العزيز محمد بن علي ال عبد اللطيف شکريه اداکووم او دالله

جل جلاله نه دعا كووم چه داشرحه داسي مفيده (فائده منده) وګرځوي لكه څنګه چه يي ددي اصل (متن) مفيد (فائده مند) ګرځولی دی.

ای الله ! مونږته او زمونږ مور اوپلار او استاذانو او شاګردانو ته مغفرت وکړي، ای الله! اسلام اومسلمانانوته عزت او قوت ورکړي شرک اومشركين ذليل اورسوا كړې الله تعالی ښه اوريدونكی او ډير نيژدي دی بنده ګانوته.

**محمد بن سعد بن عبد الرحمن الحنين**

**عضو هيئة التدريس**

**بجامة الامام محمد بن سعود الاسلامية الرياض**

**ص. ب: ٥٧٦٠ الرمزالبريدي: ١١٤٣٢**

**Hon1390@gmail.com**

# دمؤلف مقدمه

محترمو لوستونکو وروڼو وس ستاسو په وړاندي د شیخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب (رحمه الله) یو مفید کتاب (**قواعد اربعه**) موجود دی، او دهغې شرحه او وضاحت په دي کتاب کښې ستاسو حضور ته پیش کوو.

**شیخ الاسلام رحمه الله فرمایي:**

بسم الله الرحمن الرحیم (دالله په نوم چه رحمن اورحیم دی شروع کوم) دالله نه دعا کوم چه کریم (عزتمند ذات دی) او دعرش عظیم رب دی چه هغه تا خپل دوست جوړکړي په دنیا او اخرت کښې او تا مبارک (برکت والا جوړ کړي هرځاي چه یې، او تاپه خپلو هغه بنده ګانوکښې شامل کړي کوم چه دالله د فضل احساناتو او انعاماتو شکر اداکوي، او د

ابتلاء امتحان او ازما ینبت په وخت کښې د صبر او تحمل مظاهره کوي، او چه ګناه تري صادره شي نو دخپل رب نه مغفرت او معافي طلب کوي، یقینا په نعمتونو باندي دالله شکر اداکول، او په مصیبتونو باندي صبر کول او دخپل رب نه دګنا هونو معافي طلب کول دا دري واړه کارونه دانسان دسعادت او نیک بختۍ عنوان دی.

شیخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب رحمه الله ددي کتاب شروع په (بسم الله الرحمن الرحیم) سره له دوو وجونه کړیده اوله وجه داده چه د یو کار په شروع کښې دبسم الله ویل عمل دی په قران کریم باندي، دوهمه وجه داده چه په دیکښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تا بعداري ده،ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپل خطونه د بسم الله نه شروع کول، لکه په صحیح بخاري او مسلم کښې د عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه روایت دی چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم دروم بادشاه هرقل ته خط لیکلو نو نبي اکرم صلی الله علیه وسلم اوفرمایل:

«بسم الله الرحمن الرحیم من محمد عبد الله ورسوله إلی هرقل عظیم الروم..» زه داخط دالله په نوم چه رحمن اورحیم دی لیکم دمحمد له طرفه د روم باد شاه هرقل ته[۱].

بیا مؤلف رحمه الله د لو ستونکو لپاره دالله تبارک وتعالی نه دعا غو ښتې ده په دي قول سره (أسأل الله الکریم) او دا دمصنف رحمه الله عادت دی په ټولو تصانیفو کښې چه طالب العلم ته دعاکوي.

او دا دمصنف رحمه الله دمیني اومحبت دلیل دی دطالب العلم سره، دعلم اهتمام او دمتعلم سره مینه محبت دا ډیر اهم (غوره) اخلاق دي هر عالم با ید په دي اخلاقو باندي خپل ځان سنمبال کړي، او دتبلیغ علم (علم درسولو) اهتمام اوکوشش وکړي.

(۱) بخاري: (۷)، ومسلم: (۱۷۷۳).

نه داچه تبلیغ علم (علم بل ته رسول) یو بوج او وزن وګڼي او کوشش کوې چه ځان ترې خلاصکړې.

بلکې دعلم اهتمام او طلباو سره مینه محبت کول د مخکنو علماو په صفاتو کښې یو زلیدونکی صفت دی، هغوې به دعلم ډېراهتمام کولو او دطلباو سره به یې ډیره مینه او محبت کولو، او دا دهغوې اخلاق وو، لکه ابن جماعه کناني رحمه الله د درس او تدریس باره کښې دعالم (مدرس) اداب او اخلاق ذکر کړې فرمایي چه د استاذ لپاره پکار دي چه د طالب العلم د مصالحو پوره اهتمام اولحاظ وکړي، او دطالب العلم سره داسې د نرمۍ شفقت او احسان معامله وکړي لکه څنګه چه یې دخپل محبوب اولاد سره کوي، کله کله د طالب العلم نه بعضې کمزوریاني صادریږي کوم چه عام طور سره د انسان نه صادریږي نو په داسې موقع باندي باید مدرس د صبر او تحمل اظهار وکړي او طالب العلم معاف کړې او معذوریې وګڼي، اودخیرخواهي په بنیاد یې داصلاح کوشش وکړي په نرمي اوشفقت سره او دسختۍ نه باید اجتناب وکړي، مقصد به یې د طالب العلم اصلاح وي استاد له پکارده چه د طالب العلم شاګرد سره د تواضع اوخاکسارۍ نه کار واخلي او همدارنګه د تپوس کونکي سره هم د نرمۍ معامله کول پکارده چه کله د الله دحقو قو او دبنده ګانو دحقوقو لحاظ کوي[1].

❀ ❀ ❀

---

(١) آداب ٣٦٦ السامع والمتكلم: ١٤٠ـ١٥٩

# د (الکریم) معنی او مفهوم

مؤلف رحمه الله د الله جل جلاله لپاره لفظ د (الکریم) استعمال کړېدی «کریم» دالله جل جلاله نوم دی، داسماء حسنی نه، الله سبحانه وتعالی خپل ځان په (کرم) سره متصف کړي، ځکه چه الله تعالی اکرم (نهایت جود اوسخا ولا ذات دی) او لفظ د (کرم) دهغي جوامعو الفاظو نه دی، کوم چه ټولو محاسنو او محامدو ته شامل دی، دد ینه صرف عطاء (ورکړه) مقصود نده بلکه د عطاء «ورکړي» معنی ددینه یعني «لفظ دکرم نه» پوره کیږي.

ځکه چه په حقیقت کښې په بل باندي احسان کول د محاسنو اعلی درجه ده اوکرم ډیري زیاتي خیر خواهۍ ته وايي، [١] «کریم» او «اکرم» او همدارنګه بعضي نور اسماء حسنی مثلا «علي» (اعلی) او همدارنګه (قدیر (او مقتدر) دا الفاظ مختلف دي او معنی یي یوه ده، له دي وجي نه هر یو جدا او مستقل نوم دی، ابن حجر رحمه الله فرمايي، چه د یو صفت نه ډ یر نومونه مشتق شي نوهر یو نوم جدا او مستقل نوم شمارل کیږي او ددینه هیڅ مانع نشته، ځکه چه په دي اسماو کښې في الجمله تغایر اواختلاف دی او هر یو نوم د بل نوم نه په یو خصوصیت سره جداوي چه دغه، خصوصیت په بل نوم کښې نه وي[٢].

(١) فتاوی شیخ الاسلام ابن تیمیة: (١٦/٢٩٣).
(٢) فتح الباري: (١١-١٩).

# د (العرش) معنی اومفهوم

شیخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب رحمه الله په خپله دعا کښي د الله جل جلاله لپاره لفظ د (رب العرش العظیم) استعمال کړیدی.

معنی دعرش په لغت د عربو کښي د بادشاهۍ تخت ته وايي، اوهر چه عرش الرحمن (د الله جل جلاله عرش دی نوهغه د پښو والا تخت دی چه ملائکو بار کړیدی او ددنیا او مخلو قاتو لپاره د یو چت حیثیت لري[1].

د عرش الهي صفات په قران اوحدیث کښي، په قران او حدیث کښي د عرش الهي متعدد صفات ذکردي، چه بعضي دهغي نه په لاندي ډول ذکرکیږي:

١ عظمت: په قران کښي د عرش الهي یو صفت عظمت ذکر دی لکه الله جل جلاله فرمايي:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ﴾ [النمل: ٢٦]

د الله نه سوی هیڅ برحق معبو د نشته او هغه د عظیم (لوي) عرش مالک دی، حقیقت کښي الله جل جلاله دهرڅیز رب او مالک دی لیکن په دي ایت کریمه کښي يي دالله جل جلاله د ربوبیت تخصیص کړیدی

(١) شرح الطحاوية ابن ابی العز: (٣٦٦).

د عرش عظیم سره، بعضي علماء کرامو يي داسي توجیه کړيده چه عرش د الله جل جلاله په مخلوقاتو کښي یو لوي او عظیم مخلوق دی، ددي وجي نه يي په دي ایت کریمه کښي تخصیص شوي دی(۱).

۲ مجد د عرش الهي صفت په قران کښي مجد (لوي شان وا لا عرش) هم ذکر دی لکه الله جل جلاله فرمائلي دي:

﴿ذُو ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡمَجِيدُ﴾ [البروج: ١٥]

دلوي عرش والا مالک دی.

د حمزه اوکسائي په قرأت کښي په لفظ دمجید باندي دکسرې رعایت شویدی او صفت کرځولی شویدی دالمجید، دهمدي ترکیب مطابق دایت ترجمه شویده.

۳ کرم بل صفت د عرش الهي په قران کښي کریم هم بیان شویدی لکه الله جل جلاله فرمائلي دي:

﴿لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ رَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡكَرِيمِ﴾ [المؤمنون: ١١٦]

د الله نه سوی بل هیڅ معبود برحق نشته اوهغه د عزتمند عرش مالک دی.

۴ دمصنف رحمه الله داقول (چه الله جل جلاله دي تا په دنیا او اخرت کښي خپل دوست جوړکړي (ولي) دالله داسماءحسنی نه یو نوم دی، لکه الله تعالی فرمائي:

---

(۱) تفسیر ابن عطیه: ١٢ـ ١٠٦

﴿ أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۖ فَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡوَلِيُّ وَهُوَ يُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ﴾ [الشورى: ٩]

ایا نیولي دي دوي سوادالله تعالی نه مددګاران نو الله تعالی خاص هغه مددګاردی او هغه به ژوندي کوي مړي او هغه په هرڅه باندي قدرت والا د ی، (الله تعالی کار ساز او مددګاردی) ددي جملې مفهوم دادی، چه الله تعالی د ټولو مخلوقاتو دټولو کارونو متولي، کارساز، اومددګاردی.

اوهغه دټولوکارونو تدبیرکونکی اومالک دی، او دمؤ منانو لپاره دالله تعالی خاص ولایت دی هغه داچه الله تعالی خپل مؤمنان بنده ګان دتیرو نه راوباسي رڼا ته، مدد اونصرت يي کوي[1].

**د مؤلف رحمه الله داقول:** چه الله تعالی دي تا برکتناک کړې هرځاي چه يي، په حقیقت کښې دادعا دعیسی علیه السلام ددي قول نه ماخوذ ده کله چه هغه دمور په غيږه کښي وو، او داسي يي وويل: لکه الله تعالی دهغي په باره کښي فرمايي:

﴿ وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيۡنَ مَا كُنتُ ﴾ [مريم: ٣١]

او الله تعالی زه برکت والا کرځولی یم هر ځاي چه یم، دبرکت تفسیر په تعلیم الخیر (خیر طرف ته ښو دنه کولوسره هم شویدی اوپه امر بالمعروف او نهي عن المنکرسره هم شویدی[2] او ددینه علاوه نور اقوال هم شته په تفسیر د برکت کښي چه هیڅ تعارض او تضاد په کښي نشته.

(١) تفسير ألأسماء الحسني، سعيد القحطا ني: ص: ١١٢-١١٣.
(٢) تفسير ابن كثير: (٣-١١٧).

**فائده**: دیو ایت په تفسیرکښې چه دسلفو نه مختلف اقوال ذکروي په حقیقت کښې هغه اختلاف دتنوع وي، اختلاف دتضاد نه وي. شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمائي: سلفو علماء په مابین کښې د تفسیر متعلق اختلاف ډیر کم دی، په نسبت سره فقهي احکاموته، او دتفسیر متعلق چه کوم اختلاف منقول وي، غالبا هغه اختلاف د تنوع وي اختلاف دتضاد نه وي[1].

**د مؤلف**: داقول چه الله تعالی دي تا په خپلو هغه مؤمنانو بنده ګانو کښې شامل کړي کوم چه دالله تعالی دنعمتونو شکر اداکوي او دامتحان ازمائش او مصیبت په وخت کښې د صبر مظاهره کوي. او چه ګناهونه تري صادر شي نو دخپل رب نه معافي غواړي یقینا دادري حالتونه دانسان دسعادت اونیک بختۍ عنوان دی.

حقیقت کښې بنده ددي دري حالتونه بهر نه وي. بلکې همیشه د دي دري حالتونونه په یو حالت کښې وي،

دالله تعالی له طرفه ډیر زیا ت نعمتونه په بنده ګانو باندي شویدي چه په بنده ګانو باندي دهغې شکر اداکول لازم او ضروري دي. اوکله په انسان باندي از میښت امتحان،

اومصیبت راځي نوصبر او تحمل درباندي لازم دی، کله کله انسان دګناه مرتکب شي نو درباندي خپل رب طرف ته رجوع توبه او استغفار لازم دی[2].

---

(١) الفتاوی: (١٣-٣١٣).
(٢) الوابل الصیب لابن القیم: (٥).

**فائده:** همدارنګه طبراني په معجم کبيرکښې يو مرفوع روايت ذکر کړيدی (من ابتلي فصبر، وأعطى فشكر، وظلم فغفر، وظلم فاستغفر).

چاچه دامتحان اومصيبت په وخت کښې صبر وکړو او دنعمتونو په وخت کښې دالله تعالى شکر اداکړه ظلم وربانديې وشو، نو معافي يې وکړه او په بل چا يې ظلم وکړو نو معافي يې وغوښتله داحديث سخت ضعيف دی، وګورئ. [1] [2].

﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَلَمْ يَلْبِسُوٓا۟ إِيمَـٰنَهُم بِظُلْمٍ أُو۟لَـٰٓئِكَ لَهُمُ ٱلْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ﴾

[الأنعام: ٨٢]

هغه کسان چه ايمان يې راوړيدی او دشرک نه يې ځان بچ کړيدی پس همدوې دامن اوهدايت والادي.

## شيخ الاسلام رحمه الله فرما يي:

پوهه شه: الله تعالى دي خپل عبادت او طاعت طرف ته ستا رهنمايي وکړي، چه حنيفيت دابراهيم عليه السلام دين دی، دابراهيم عليه السلام ددين دحنيفيت مفهوم اومطلب دادی: چه صرف يواځې په اخلاص سره دالله تعالى عبادت او بنده ګي وکړېشي لکه الله تعالى فرمايي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾ [الذاريات: ٥٦]

(١) سلسلة الاحاديث الضعيفة والموضوعة للالباني: (٤٥٢٧).

(٢) الجامع: (٥٣٢٣).

ما انسانان اوپیران صرف ددي لپاره پیداکړیدي چه خاص زما عبادت او بنده ګي وکړي ددي ایت مبارکه نه په وضاحت سره دامعلومه شوه چه الله تعالی انسانان او پیران صرف دخپل عبادت او بنده ګي لپاره پیدا کړیدي، نو په دي خبره باندي ښه ځان پوهه کړه چه د خالص توحید نه بغیر هیڅ عبادت عبادت نه دی، ددي مثال پشان دلمانځه دی لکه څرنګه چه هیڅ لمونځ بغیر داوداسه نه لمونځ نه وي.

هرکله چه په عبادت کښي شرک داخل شي نو عبادت برباد فاسد او باطل شي لکه حدث (بي او دسی) سره چه طهارت باطلیږي.

هرکله چه تاته داخبره ښه واضحه شوه چه شرک کله دعبادت سره ګډ وډ شي نوعبادت برباده وي او اعمال هم له مینځه وړي، اوځاي دمشرک دهمیشه لپاره اور دجهنم دی، نو پدي به هم پوهه شوی يي چه دتوحید اهمیت پیژندل او دشرک دفساد نه ځان خبره ول څومره اهم او ضروري دي، امید دی چه الله تعالی تاته دشرک دجال نه نجات در په برخه کړي، دکوم په باره کښي چه الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ ﴾ [النساء: ٤٨]

یقیناالله تعالی نه معاف کوي چه شرک وکړیشي دهغه سره او معاف کوي ددینه علاوه نورګناهونه چاته چه وغواړي.

# دعلم معنی اومفهوم

د مؤلف رحمه الله دا قول: چه پوهه شه الله تعالی دي خپل عبادت اوطاعت طرف ته ستا رهنمايي وکړي حنيفيت دابراهيم عليه السلام دين دی، د حنيفيت مفهوم دادی: چه صرف يواځي په اخلاص سره دالله تعالی عبادت او بنده ګي وکړيشي.

**فايده**: مؤلف رحمه الله خپله خبره د (اعلم) لفظ نه شروع کړه، او دا د امرصيغه ده دعلم نه، او ددي معنی ده پوهه شه، علماء د دي لفظ د معنی اومدلول په باره کښي مختلف اقوال ذکرکړيدي چه دهغي تفصيل دادی:

١ علم: دهغي پوخ او مظبوط اعتقاد نوم دی کوم چه دواقع سره عين مطابق وي[1].

لکه دامثال چه هر مخلوق دپاره خالق پيداکونکی لازم او ضروري وي او هغه الله تعالی دی نو ديته علم وايي، ځکه چه دا حکم په يقيني طور سره صادر شوي اودواقع سره بلکل عين مطابق دی.

٢ دبعضي علماء دقول مطابق دعلم هيڅ تعريف نه کيږي، لکه ابن العربي المالکي داقول کړيدی، او ددي علت دادی چه علم دومره زيات

(١) لتعريفات للجرجاني: ١٥٧

واضح دی چه تعریف ته هیڅ ضرورت نه لري[1] (اعلم) دامر صیغه هغه وخت استعمالیږي چه کله د یو اهم څیز بیانول مقصود وي، مطلب داشو، کوم علوم او معارف چه تا ته بیانیږي نو دهغي د پو هي دپاره ځان تیار کړه[2].

(۱) عارضة الأحوذي: (۱۰/۱۱۳- ۱۱٤).
(۲) حاشیة الأصول الثلاثة لابن قاسم: (۹).

# د رشد تعریف

(الرشد) رشد او هدایت دالله تعالی په عظیم احساناتو او انعاماتو کښې یو عظیم احسان دی، لکه الله تعالی فرمايي:

﴿أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلرَّٰشِدُونَ ۝٧ فَضۡلٗا مِّنَ ٱللَّهِ وَنِعۡمَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ﴾

[الحجرات: ٧-٨]

دغه کسان هم د وي کا میاب دي دالله تعالی دفضل او نعمت د و جي نه، الله تعالی پوهه او حکمت والا دی. د رشد تعریف بعضي علماء داسي کوي، چه رشد په حق باندي مستقیم کلک او مظبوط پا تکیدلو ته وايي[1].

## په رشد او هدایت کښي فرق:

ابن قیم رحمه الله فرمايي: علم نافع (فایده مندعلم او په هغي باندي عمل کولو ته (رشد) وايي، رشد اوهدی چه کله جدا جدا ذکرشي نو هریو د یو بل معنی ته شامليږي.

یعني رشد دهدی په معنی، او هدی درشدپه معنی راځي، او چه کله یو ځاي ذکرشي نو درشد معنی ده د حق علم حاصلول او دهدی معنی ده د حق علم مطابق عمل کول[2].

(١) فتح القدير للشوكاني: (٥-٧١).
(٢) إغاثة اللهفان: (٥٣٧).

## د اطاعت معنی:

اطاعت هغه تابعداري او پيروي ته وايي چه د دين او شريعت دحكم مطابق وي[1] يعني عبادت په داسي طريقه سره كول چه دالله تعالى دحكم مطابق وي[2].

ددي مثال: د اطاعت مثال لكه لمونځ شو، لمونځ ترهغه وخته پوري اطاعت تابعداري نده ترڅو پوري چه دالله تعالى دحكم مطابق او سره د شروطو واجباتو او اركانو ادا نه شي.

د مؤلف رحمه الله داقول: چه حنيفيت د ابراهيم عليه السلام دين دی، او ددي مفهوم دادی چه يواځي په اخلاص سره دالله تعالى عبادت او بنده ګي وكړيشي) دحنيف كلمه په قران كريم كښي ډير كرته ذكر شويده، او الله تعالى په انسا نانو باندي فرض كړيده چه دحنيفيت (استقامت والا) جوړ شي، اول الله تعالى په اهل كتاب يهود او نصارا و باندي دافرض كړيوه چه د حنيفيت دين تابعداري وكړي، او بيا يي په امت محمدي باندي داهم فرض كړه چه ددين حنيف چه د توحيد دين دی تابعداري وكړي يعني په ټولو انسانانو باندي دافرض ده چه دملت ابراهيمي تا بعداري وكړي[3]، لكه الله تعالى فرمايي:

---

(١) شرح الطحاوية الابن ابي العز الحنفي: (١-٣٣٥).
(٢) الكوكب المنير لإ بن النجار: (١-٣٨).
(٣) جامع المسائل لشيخ الإسلام ابن تيمية (١٧٩/٥).

﴿ ثُمَّ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ أَنِ ٱتَّبِعۡ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ﴾ [النحل: ۱۲۳]

وحي وکړه مونږ تاته چه تابعداري کوه دملت دابراهیم علیه السلام چه کلک موحد وو او نه وو د مشرکانو د ډلي نه.

همدارنګه الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ وَمَن يَرۡغَبُ عَن مِّلَّةِ إِبۡرَٰهِـۧمَ إِلَّا مَن سَفِهَ نَفۡسَهُۥۚ وَلَقَدِ ٱصۡطَفَيۡنَٰهُ فِي ٱلدُّنۡيَاۖ وَإِنَّهُۥ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ لَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴾ [البقرة: ۱۳۰]

او مخ نه اړه وي د دین د ابراهیم علیه السلام نه مګر هغه څوک چه بې وقوف کړي ځان خپل او یقینا غوره کړی وو مونږ ده لره په دنیا کښې اویقینا دی به خامخا په اخرت کښې د کامیابو نه وي. او همدارنګه الله تعالی فرمایي:

﴿وَقَالُواْ كُونُواْ هُودًا أَوۡ نَصَٰرَىٰ تَهۡتَدُواْۗ قُلۡ بَلۡ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِـۧمَ حَنِيفٗاۖ وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ﴾ [البقرة: ۱۳۵]

دوي وايي چه شي تاسي یهود یان یا نصری لاربه وموميء، اوایه مونږ تابع یو د دین دابراهیم علیه السلام چه پوخ موحد وو، او نه وو دی دمشرکانو د ډلي نه. هرکله چه داخبره ښه واضحه معلومه شوه چه د حنیفیت تابعداري فرض او لازم ده په ټولو خلکو باندي نو مصنف رحمه الله واضحه کړه چه حنیفیت د ابراهیم علیه السلام د دین او ملت نوم دی،

# دملت معنی

(ملت) دین او شریعت ته وايي[١]:

### پس د حنیفیت صحیح مفهوم اومعنی:

حنیفیت دهغه دیني لاري نوم دی، په کومه باندي چه ابراهیم علیه السلام ولاړ وو، یعني په اخلاص سره دالله تعالی عبادت او بنده ګي کول عربو به هغه کس ته هم حنیف وایو کوم چه به دیهودو او نصراو ددین نه واوړیده، ددي وجي نه بعضي اهل کتابو په خپلو کتابونو کښي د حنیف دکلمي سره دښمني ښکاره کړي، او داهغه عرب وو کومو چه حج او ختنه جمع کړیوه، (او دا دواړه یعني حج او ختنه کول د دین ابراهیمي جزء وو، حالانکه دوي مشرکین وو[٢].

(حنیف) دحنف نه ماخوذ دی، او دحنف اصلي معنی ده میلان کول، نودحنیف معنی شوه د باطل دینونونه اعراض کونکی، بعضي علماو ویلي دي چه دحنف اصلي معنی استقامت ده، ددي وجي نه دابراهیم علیه السلام دین ته دحنیفیت نوم ایښودل شوی دی[٣].

(١) أحكام القران للقرطبي: (٢/ ١٣٠).
(٢) جامع المسائل لابن تيمية: (٥/ ١٨٤).
(٣) تفسيرالشوكا ني: (١/ ١٦٠– ١٦١).

شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله فرمايي: حنيف هغه شخص ته وايي چه دخپل رب په حڪم باندي کلک او مستقيم وي، او دهر قسمه باطل نه اعراض کونڪی وي، حنيفيت په اصل کښي يواځي په اخلاص سره دالله تعالی عبادت او بنده ګي کول اوپه هغې باندي هميشه قائم پاتڪيدل او دالله تعالی سره محبت کول او هغه ته عاجزي کول او دهر قسمه شرک نه ځان ساتل ديته حنيفيت وايي(١).

دمؤلف رحمه الله داقول: (کله چه تاته داخبره ښه واضحه شوه چه ته الله تعالی دخپل عبادت لپاره پيداکړی يي، نو په دي خبره باندي هم ځان پوهه کړه چه د خالص توحيد نه بغير هيڅ عبادت مقبول عبادت نشي کيدلاي لکه څرنګه چه د اوداسه نه بغيرهيڅ لمونځ نشي کيدلاي، يعني خالص توحيد دهرعبادت دقبوليت لپاره داسي اساسي او بنيادي شرط دی لکه څرنګه چه د لمانځه د قبوليت لپاره طهارت بنيادي شرط دی.

او ددي دليل په قران کريم کښي دا ايت کريمه ده:

﴿وَٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُشۡرِكُواْ بِهِۦ شَيۡـًٔا﴾ [النساء: ٣٦]

او بنده ګي کوئ دالله تعالی او مه شريڪوئ دهغه سره هيڅ شی.

په دي ايت کريمه کښي الله تعالی دعبادت امر او دشرک نه ځان ساتل يي يوځاي ذکر کړيدی، ددينه داخبره واضحه کيږي چه دعبادت دقبوليت لپاره توحيد شرط دی.

(١) الفتاوی: (٥/ ٢٣٩) (١٠/ ٤٦٦).

مصنف رحمه الله وفرمایل: چه کوم عبادت دالله تعالی لپاره خالص نه وي نو هغې ته عبادت نه ویل کیږي، لکه دمشرک عبادت ته عبادت نه ویل کیږي.

لیکن ددي باوجود الله تعالی دعبادت لفظ ددي حقیقي معنی خلاف استعمال کړیدی،او دمشرک عبادت ته يي هم عبادت ویلی دی، لکه الله تعالی فرمايي:

﴿وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمۡ وَلَا يَضُرُّهُمۡ﴾ [الفرقان: ٥٥]

او بنده ګي کوي دوي سیوا دالله تعالی نه دهغه چا چه نه نفع ورکولاي شي دویته او نه نقصان ورکولاي شي دویته، او همدارنګه الله تعالی په یو بل ایت کښي فرمايي:

﴿قَالَ أَفَرَءَيۡتُم مَّا كُنتُمۡ تَعۡبُدُونَ﴾ [الشعراء: ٧٥]

﴿أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُمُ ٱلۡأَقۡدَمُونَ﴾ [الشعراء: ٧٦]

اویل ابراهیم علیه السلام ایا خبر يي تاسو په حال دهغه چا چه تاسو هغوي لره بنده ګي کوي * تاسو او مشران ستاسو مخکني.



# عبادت په قران اوحديث کښي

شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله: ددي مسئلې وضاحت په داسي انداز کړيدی چه په هغي سره دمصنف مراد اومقصود ښه واضح کيږي، دهغي حاصل دادی:

**دعبادت لفظ په قران او حديث کښي په دوه طريقو سره استعمال شويدی.**

١ **مطلق**: کله د عبادت نه مراد مطلق عبادت وي، او دا د الله تعالی په نيزمقبول وي ځکه چه خالص دالله تعالی لپاره وي، په دي معنی او اعتبار سره دمشرک عبادت ته عبادت نه ويل کيږي، ځکه چه هغه خالص دالله تعالی لپاره نه وي همدارنګه لفظ د مطلق ايمان صرف سوچه اوصحيح ايمان ته شامليږي، او د کفارو او مشرکينو ايمان ته نه شامليږي ځکه چه کفار او مشرکين دالله دتعالی په ربو بيت باندي اقرار او اعتراف کوي، ليکن دالله تعا لی سره په توحيدالوهيت کښی شرک کوی.

٢ **مقيد**: کله چه مشرک دالله تعالی عبادت کوي او دهغي سره دغيرالله عبادت هم کوي، نو دي باندي دعبادت اطلاق کيږي خو د (قيد) سره لکه داسي ويل کيږي چه دا شخص دالله تعالی عبادت کوي

او دغير الله عبادت هم كوي او يا داسي وويل شي چه دا شخص دالله تعالى سره په عبادت كښي شرک كوي.

په قران كريم او احاديثو كښي ددي وضاحت موجود دی، لکه مخکښي دقران كريم دوه اياتونه ذكر شو، او همدارنګه دا قول دالله تعالى:

﴿وَإِذۡ قَالَ إِبۡرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوۡمِهِۦٓ إِنَّنِي بَرَآءٞ مِّمَّا تَعۡبُدُونَ﴾ [الزخرف: ٢٦]

او كله چه اويل ابراهيم عليه السلام پلار خپل او قوم خپل ته يقينا زه بيزاره يم د هغه چانه چه تاسو يي بنده ګي كوې.

په دي ايت كريمه كښي د دوي متعلق دعبادت لفظ استعمال شويدی، ليكن مقيد، يعني عبادت ستاسو الله تعالى لره سره دشرک نه،يعني زه ستاسو د هغه عبادت نه بيزاره يم چه شرک ورسره وي، ددي وجي نه كله چه د مشركينو او كفارو نه نفي دمطلق عبادت راشي لكه په دي قول دالله تعالى كښي:

﴿وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٞ مَّا عَبَدتُّمۡ﴾ [الكافرون: ٤]

او نه يم زه عبادت كونكى په هغه طريقه چه تاسو عبادت كوي.

نو دلته نفي دمقيد عبادت نه ده مراد، بلكه نفي دعبادت مطلق مراد ده او دا هغه عبادت دی چه دالله په نيز مقبول او دالله تعالى په توفيق سره كيږي[١].

---

(١) الفتاوى: (١٦-٥٧٣).

**فائده**: شیخ عبدالله الغنیمان حفظه الله فرمايي: چه ددي تفصیل نه دمؤلف رحمه الله مقصود او مراد ښه نه واضح کیږي، بلکه فرق دادی، چه په لغت کښې دعبادت اطلاق په هر هغه معبود باندي کیږي چه قصد يي وشي په عبادت سره لیکن په شرعه کښې صرف هغه عبادت معتبراو مقبول دی چه دتوحید سره وي، اصل کښې دافرق دی.

او فرق د اطلاق او تقید ښه واضح ندی، ددي وضاحت نه معلومه شوه چه مراد دمصنف په نفي دعبادت مطلق سره نفي دهغه عبادت مرادده، کوم چه دالله تعالی په نیز باندي مقبول وي، او دالله تعالی په توفیق سره کیږي.

**دمؤلف رحمه الله داقول**: هرکله چه تاته داخبره ښه واضحه شوه چه شرک کله دعبادت سره ګډ وډ شي نوعبادت برباده وي، مصنف رحمه الله ددي خبري وضاحت کوي چه کله، دعبادت سره شرک ګډ وډ شي نو څه احکام وربانديي مرتب کیږي، اول حکم يي دا بیان کړیدی، چه دشرک دوجي نه عبادت برباد یږي، هرکله چه شرک دعبادت سره ګډوډ شي نو عبادت فاسد اوبرباد شي، که یو شخص دحج نیت او اراده وکړي اوحج اداکړي، او بیا دغیرالله نه مدد وغواړي او یا دغیرالله دپاره نذر یاذبحه وکړي نو حج يي باطل فاسد او برباد شه، لکه الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَوۡ أَشۡرَكُواْ لَحَبِطَ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾ [الأنعام: ٨٨]

او که بالفرض شرک کړی وی دوی ـ خامخا برباد شوي به وی،

ددوي هغه عملونه چه دوی کول، اوهمدارنګه که یوشخص اودس وکړي او بیا شرک وکړي دالله تعالی سره نو طهارت اواودس یي فاسد اوباطل شو.

ابن قدامه رحمه الله فرمائي: چه طهارت یوعمل دی او دا عمل حکما باقي پا تې کیږي اوچه کله ورته باطلونکې څیز عارض شي نو باطلیږي، نو په شرک سره هم خامخا باطلیږي، ځکه چه طهارت داسي عبادت دی چه په حدث (بې اودسی) سره فاسدیږي نو شرک یي خو خامخا له مینځه وړي[1].

د مصنف داقول چه دشرک دوجي نه عمل او عبادت بربادیږي اوددي دپاره يي لفظ د (احباط) استعمال کړیدی، بعضي علماو ددي وضاحت په بطلان سره کړیدی.

قاضي عیاض رحمه الله فرمائي: چه د «أحبط عملك» او «حبط عملك» دواړو یوه معنی ده چه باطلیدل دي، او لفظ دباطل او فاسد دا الفاظ مختلف دي او معنی یي یوه ده[2].

مصنف رحمه الله دشرک په باره کښې لفظ د حبوط یعني دعمل بربادیدل يي عطف کړیدی، په لفظ د (فساد) یعني دعمل فاسدیدلو باندي، او ضمیر د (ا فسدها) يي هغه عبادت ته راجع کړیدی، چه شرک ورسره ګډوډ

(١) المغني: (١-٣٢٨).
(٢) مشارق الآنوار: (١-٢٢١).

شوی وي، او لفظ د العمل) چه معرف بالام دی او دلالت کوي په عموم باندي، ددي اسناد يې کړيدی، لفظ د (الحبوط) يعني دعمل بربادېدلو ته ځکه چه دعمل بربادېدل يې دوهم هغه حکم وګرځه وو کوم چه مرتب کيږي په شرک باندي.

په دي معنی باندي چه دشرک اول حکم دادی چه دشرک دوجي نه هغه عبادت بربادېږي دکوم سره چه شرک ګډوډ شوی وي، اودوهم حکم دشرک دادی، چه د شرک دوجي نه هغه اعمال صالحه هم بربادېږي چه ددي شرک نه يې مخکي کړي وي، او ددي ښه وضاحت په دي قول دالله تعالی کښې دی:

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴾ [الزمر: ٦٥]

او يقينا وحي کړي شوېده تاته اوهغه کسانو ته چه ستانه مخکي دي که چيري شرک د او کړو خامخا برباد به شي عمل ستا او خامخا شي به ته دتاوان وا لو نه.

**مصنف رحمه الله فرمايي:** کوم انسان چه دشرک نه ځان نه ساتي دا کافر دی، اګرکه په امت کښې ډېر لوې عبادت کونکی وې، دشپې لمونځونه (تهجد) کوي او د ورځي روژې نيسي، دا اعمال يې ټول برباد دي! الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَوۡ أَشۡرَكُواْ لَحَبِطَ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴾ [الأنعام: ٨٨]

او که بالفرض شرک کړی وی دوی خامخا برباد شوي به وی، ددوي هغه عملونه چه دوی کول، دمشرک داعمالو عاقبت داسي وي لکه يو سړی د جنابت ناپاکۍ په حالت کښې لمونځونه کوي، او د جنابت نه غسل نه کوي، او يا داسي لکه يوسړی په ډيره سخته ګرمۍ کښې روژې نيسي او بيا دورځي زناکوي.

امام ابن قيم رحمه الله د اعمالو دبربادېدلونوعيت دوه قسمه بيان کړيدی، يعني داعمالو بربادېدل دوه قسمه دي.

١ **عام**: ددې صورت دادی لکه په مرتد کېدلو سره دانسان ټول نيک اعمال بربادېږي، او په صحيح توبې سره دانسان ټول ګناهونه معاف کيږي.

٢ **خاص**: ددې صورت دادی: لکه بعضې نيک اعمال برباد شي، او بعضې ګناهونه معاف شي او ديته جزءيي بربادېدل وايي[١]:

مصنف رحمه الله فرمايي: چه مشرک (شرک کونکی) به هميشه په اور دجهنم کښې وي، ددې نه مراد دمصنف رحمه الله دريم حکم دی چه مرتب کيږي په شرک اکبر باندې ځکه چه مشرک که دتوبې نه بغير دشرک په حالت کښې مړشه نو هميشه به په اور دجهنم کښې اوسيږي، الله تعالی فرمايي:

﴿ لَقَدْ كَفَرَ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَۖ وَقَالَ ٱلْمَسِيحُ

(١) كتاب الصلاة لابن القيم: (٨٦).

﴿يَٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمۡۖ إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٖ﴾ [المائدة: ٧٢]

یقینا کفرکړیدی هغه کسانو چه وایي بیشکه الله تعالی هغه مسیح ځوي دمریم دی، او ویلي دي مسیح: ای بني اسرائیلو بندګي کوي دالله تعالی چه رب ځما دی او رب ستاسو دی، بیشکه چا چه شرک وکړو دالله تعالی سره پس یقینا حرام کړیدی الله تعالی په هغه باندي جنت او ځاي دهغه اور دجهنم دی، او نشته ظالمانولره هیڅ مددګار.

هرکله چه تاته داخبره ښه واضحه شوه چه شرک کله دعبادت سره ګډ وړ شي نوعبادت برباده وي، او اعمال هم له مینځه وړي، اوځاي دمشرک دهمیشه لپاره اور دجهنم وي نو پدي به هم پوهه شوی یي چه دتوحید اهمیت پیژندل او دشرک دفساد نه ځان خبره ول څومره اهم او ضروري دي، امید دی چه الله تعالی تاته دشرک د جال نه نجات در په برخه کړي، دکوم په باره کښي چه الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا﴾ [النساء: ٤٨]

یقیناالله تعالی نه معاف کوي چه شرک وکړیشي دهغه سره او معاف کوي ددینه علاوه نورګناهونه چاته چه وغواړي، او چاچه شرک وکړو دالله تعالی سره پس یقینا جوړه یي کړوګناه لویه.

د شیخ الاسلام رحمه الله په کلام کښي ددي قواعدو او اصولو داهمیت

ذکردی، هغه په خپلو نورو رسالو کښي په مختلفو مقاماتو کښي ددي اصولو او قواعدو داهمیت وضاحت کړیدی، چه دهغي خلاصه داده:

۱ ددغي اصولو او قواعدو په معرفت او پوهې سره موحد په شرک کښي دواقع کیدلو نه محفوظ کیږي.

۲ په دغه اصولواو قواعدو کښي د لاآله الا الله صحیح معنی او مطلب بیان شویدی.

۳ ددغي اصولو اوقو اعدو په معرفت اوپوهې سره دتوحیداو شرک په مابین کې ښه فرق کیږي.

مصنف رحمه الله فرمایي دشرک نه دبچ کیدلولپاره معرفت دڅلورو اصولو او قواعدو ضروري دی، کوم چه الله تعالی په قران کښي بیان کړیدي، او دغي اصولو اوقواعدو په وجه باندي انسان دلا اله الا الله صحیح معنی او مفهوم پژندلی شي، او ددغي اصولو او قواعدو په رڼا کښي داهل اسلام او اهل شرک په مابین کښي ښه تمیز او وضاحت کیږي، الله تعالی د په تا رحم وکړي، ته ددغه اصولو او قواعدو باره کښي غور او فکر وکړه، او خپله پوهه دغه اصولو طرف ته متوجه کړه، ځکه چه دا ډیر فائده مند اصول دي.

د مؤلف رحمه الله داقول، شرک اکبر دکوم په باره کښي چه الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا﴾ [النساء: ٤٨]

یقینالله تعالی نه معاف کوي چه شرک وکړیشي دهغه سره او معاف کوي ددینه علاوه نورګناهونه چاته چه اوغواړي، او چاچه شرک وکړو دالله تعالی سره پس یقینا جوړه یي کړو ګناه لویه.

دا هم دهغه احکامو د جملي څخه دي کوم چه په شرک اکبر باندي مرتب کیږي او هغه داچه الله تعالی هغه مشرک نه معاف کوي چه په لوي شرک کښي اخته وي، او بغیر دتو بې نه مړ شي لیکن دشرک اکبر نه علاوه نور کبیره ګناهونه چه چا کړي وي او بغیر دتوبې نه مړ شي نو دا دالله تعالی مشیئت ته وسپارل شو،که خوښه یي شي معاف به یي کړي او که خوښه شي عذاب به ورکړي، او دا ددي ایت معنی او مقصود دی.

**مصنف رحمه الله وفرمایل**: چه ددي اصولو اوقواعدو په معرفت او پوهي سره مونږ دشرک او غیرالله دعبادت د جال نه بهر وتلي شو.

**قواعد**: دقاعده جمع ده او قاعده په لغت کښي بنیاد او اساس ته وایي، کله چه وویل شي قواعد البیت نوددي نه مقصود دکور بنیاد او اساس وي[1].

(١) لسان العرب لابن منظور: (٧- ٤٣٤).

# دقاعدې معنی

## دقاعدې تعریف په اصطلاح دعلماو کښې:

علماء کله داسې فرمايي چه په دې مسئله کښې قاعده داده او کله داسې وايي چه په دې باب کښې قاعده داده، نومراد په دې سره هغه کلي قضيې (مسائل) وي چه په هغې کښې دغور فکرنه بعد جزيي قضيې (مسائل) معلو ميږي[١].

ددې مثال دادی لکه چه وويل شي: چاچه عبادت دغيرالله طرف ته واړه وو نو ده يقينا شرک اوکړو، داقضيه کليه ده، په دې باندې دغور فکر نه بعد جزيي قضيې داسې معلوميږي، چاچه دغيرالله لپاره ذبحه اوکړه يا يې دغيرالله لپاره نذر نياز وکړه، ياېې غيرالله ته سجده وکړه، نو ددې څه حکم دی؟ نو دمخکې قضيې نه معلومه شوه چه دامشرک دی، ځکه چه دا ټول دعبادت انواع دي، چاچه دا دغيرالله لپاره اوکړل نو دايقيني مشرک دی.

## معرفة:

ديوشي اصلي حالت معلو مولو ته معرفت وايي[٢] دالله تعالی لپاره وصف

(١) شرح مختصر الروضة للطوفي: (١- ١٢٠).
(٢) التعريفات للجرجاني: (٢١٨).

د (عارف) نشي بیانیدلی، او په دي باندي احمد بن حمدان دقاضي ابو یعلی محمد بن حسین نه اجماع نقل کړیده[1] او الله تعالی په وصف د (عالم) سره متصف کیږي، لکه الله تعالی فرمایلي دي:

﴿عَٰلِمِ ٱلۡغَيۡبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ﴾ [المؤمنون: ٩٢]

عالم دی په هر پټ او ښکاره باندي پس اوچت دی دهغي نه چه دوي دهغه سره شریکوي.

دالله تعالی لپاره لفظ دمعرفت نه استعمالیږي ځکه چه دمعرفت نه مخکې جهل وي او دا دالله تعالی په باره کښي مستحیل (ناشوني) دی.

ځکه چه دالله تبارک وتعالی علم ازلي دی یعني دازل نه تر ابده پوري الله تعالی عالم دی په ما کان اوما یکون باندي[2] اوبل دوهمه وجه داده چه معرفت یقین او ظن (ګمان ته) دواړو ته شاملیږي او داهم دالله تعالی په باره کښي مستحیل (ناشوني) دی[3].

**فائده**: دالله تعالی اسماء او صفات توقیفي دي، یعني په قران او حدیث سره ثابت دي، له دي وجي نه په هر چا لازم ده چه ددي په باره کښی او ددینه علاوه په نورو امورو کښي د اهل سنت والجماعت موقف خپل کړي.

(١) الکوکب المنیر: (١/٦٥-٦٦).
(٢) التعریفات: (١٧٢).
(٣) شرح الاصول من علم الاصول عثیمن: (٢٥).

**شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله فرمائي:** چه دسلفو صالحینو مذهب دادی. چه هغوي دالله تعالی لپاره هغه صفات ثابتوي کوم چه الله تعالی د خپل ځان لپاره ثابت کړیدي، او یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دالله تعالی لپاره ثابت کړیدي بغیردتحریف (معنی بدلولونه) او بغیر دتعطیل (معنی نه انکارکولونه) او بغیر دتکییف (کیفیت بیانه ولونه) او بغیردتمثیل (مثال ورکولو نه)[1].

**ایا دالله تعالی علم په یقین سره متصف کول درست دي؟**

جواب دالله تعالی علم په یقین متصف کول درست ندي، ځکه چه کلمه دیقین په داسي څه دلالت کوي، چه مخکي موجود نه وي، او دا د الله تعالی دعلم باره کښې مستحیل (ناشونی) دی.

ابن القطان رحمه الله ددي وضاحت په خپل کتاب فتح الرحمن کښې په تفصیل سره کړیدی[2]:

**د مصنف رحمه الله داقول:** چه الله تعالی ددي قواعدو ذکر په قران کریم کښې کړیدی په دي قول سره مصنف رحمه الله ددي قواعدو او اصولو مراجع اومصادرو ته اشاره کوي هغه داچه داقواعد او اصول د قران کریم نه ماخوذ او مستنبط دي، او داد مصنف رحمه الله دکتابونو کمال او امتیاز دی چه دقران او احادیثو په قوي دلائلو باندي مبني وي.

(۱) الفتاوی: (۵-۲٦).
(۲) فتح الرحمن: (۲۰).

# اول اصل او قاعده

په دي پوهه شه چه هغه مشرکين او کفار چه رسول الله صلى الله عليه وسلم ورسره قتال (جنګ) کړيدی هغوي په دي اقرار او اعتراف کولو چه الله تعالى رازق خالق او مدبر دی، ليکن هغوي په دي اقرار سره په اسلام کښې داخل نه شو، ددي دليل دا قول دالله تعالى دی:

﴿ قُلۡ مَن يَرۡزُقُكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أَمَّن يَمۡلِكُ ٱلسَّمۡعَ وَٱلۡأَبۡصَٰرَ وَمَن يُخۡرِجُ ٱلۡحَيَّ مِنَ ٱلۡمَيِّتِ وَيُخۡرِجُ ٱلۡمَيِّتَ مِنَ ٱلۡحَيِّ وَمَن يُدَبِّرُ ٱلۡأَمۡرَۚ فَسَيَقُولُونَ ٱللَّهُۚ فَقُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ﴾ [يونس: ٣١]

او ا يه څوک روزي درکوي داسمان او د زمکې نه او يا څوک اختيار مند دی د غوږونو اود سترګو.

او څوک را وباسي ژوندی دمړنه او راوباسي مړدژوندی نه اوڅوک انتظام کوي د د ټولو کارونو پس اوبه وايي دوي چه الله تعالى پس اوايه ته ايا ځان نه بچ کوې دشرک نه.

## ددي اول اصل او قاعدې معنى او مطلب:

(١) دمکې کفاراو مشرکين کومو کښې چه الله تعالى ، رسول الله صلى الله عليه وسلم نبي راوليږه، هغوي د اسماعيل عليه السلام اولادول، او

دابراهیم علیه السلام د دین څه حصه پکښې هم باقي پاتي وه له دي وجي نه په دیکښې څه تعجب نشته چه هغوي دالله تعالی په خالقیت او رازقیت او تدبیر باندي اعتراف او اقرار کولو، لیکن ایا دي اقرار او اعتراف دوي په اسلام کښې داخل کړل او وینه اومال یي محفوظ شو؟

مصنف رحمه الله په قطعي دلیل سره دا واضحه کړه چه د مشرکینو دي اقرار او اعتراف دوي په اسلام کښې داخل نه کړل، بلکه الله تعالی په دوي باندي دکفر حکم اوکړو او خپل نبي ته یي ددوي په خلاف باندي دقتال (جنګ) امر اوکړو.

امام محمد بن عبدالوهاب رحمه الله دا اصل او قاعده ولې بیان کړه؟ که څوک د مصنف رحمه الله په دور باندي سوچ اوکړي او په هغه حالاتو باندي چه مصنف ورسره مخامخ وو، نو داخبره به ورته ښه واضحه شي چه مصنف رحمه الله دا قاعده ولي بیان او واضحه ثابته کړه ځکه چه ډیر هغه خلک چه اسلام ته منسوب ول، داسلام په خلاف او منافي کارونو کښې مبتلاء وو، دقبرونو په عبادت کښې مبتلاء وو، او څه تعداد علماء داسي هم ووچه باطل یي د حق په لباس کښې خلکو ته پیش کړی وو!

او مصنف رحمه الله ددي ټولو حقیقتونو نه واقف او باخبر وو، او په دي ډیر ښه پوهیده چه داخلک دهغه توحید دحقیقت نه ناخبره دي په کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم رالیږل شوی وو، ددي وجي دوي په انحراف

او ګمراهۍ کښې واقع شوي دي، او دوي داعقیده لري چه په هرمکلف باندي صرف دتوحیدربوبیت پیژندل ضروري دي اودوي دجهالت اویاد تقلید دوجي نه داخیال او ګمان هم کوي چه دلااله الاالله معنی داده چه الله تعالی خالق رازق او داشیاو پیداکونکی دی فقط ددي له وجي نه اګرکه یو شخص په کفري کارونو کښې واقع وي لکه دغیرالله لپاره ذبح کول او دغیرالله نه مدد غوښتل او دمخلوق نه هغه حاجات غوښتل په کومو باندي چه صرف الله تعالی قادر وي او دمخلوق د قدرت نه بهر وي نو ددوي په نیز باندي داشخص مرتد نه شمارل کیږي ترڅو پوري چه دا شخص داعقیده لري چه الله تعالی خالق رازق او ددي کائناتو مدبر دی[1].

لهذا ددي باطل اعتقاد درد لپاره مصنف رحمه الله داقاعده واضحه او ثابته کړه چه هغه کفار او مشرکین مکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره قتال (جنګ) اوکړو هغوي هم دالله تعالی په ربوبیت باندي اقرار او اعتراف کولو او ددي باوجود دي اقرار هغوي په اسلام کښې داخل نه کړل!.

## دنورو دلائلو سره سره د ایت کریمه نه ددي اصل لپاره وجه د استدلال

دتوحیدپه باره کښې د قبر پرستو دانحراف خلاصه داسي ممکن ده، چه دهغوي ګمان دادی، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم صرف دتوحید

(١) دعاوي المناوئي: عبد العزیز عبداللطیف (١٩٣- ١٩٤).

ربوبیت لپاره نبي رالیږل شوی وو، او دهمدي په بنیاد یي دمخالفینو سره دشمنۍ قتل قتال (جنګونه) کړي وو، اوپه همدي توحید ربوبیت باندي اعتراف کولو سره دانسان وینه اومال په دنیا کښې محفوظ کیږي، او په اخرت کښې ورته نجات حاصلیږي، او صرف په همدي توحید ربوبیت باندي اعتراف چه الله تعالی خالق رازق او مدبر دی، فقط همدا د لااله الاالله معنی اومقصد دی.

ځکه خو مصنف رحمه الله د قران کریم په رڼا کښې په واضح دلیل سره دا ثابته کړه چه د قبر پرستو دا اعتقاد او عقیده خطاء او باطله ده د مذکوره ایت کریمه تسلي بخش وضاحت په دوه طریقو سره کیږي.

۱ داچه کفارو او مشرکینو هم په دي باندي اقرار او اعتراف کولو چه الله تعالی خالق مالک رازق او دټولو کارونو تد بیر کونکی دی، لیکن ددي اقرار با وجود دوي په اسلام کښې داخل نه شول، او داحقیقت په دي ایت کریمه سره ښه واضح کیږي:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ ۖ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ﴾ [الزخرف: ۸۷]

او که چیري تپوس اوکړي ته د دوي نه چه چا پیدا کړیدي دا (شفعاء) خامخا دوي به ووایي الله تعالی نو څرنګه اوړیدلی کیږي دوي د تو حید نه.

یعني زمونږ رازق او زمونږ دسترګو غوږو نو او دمرګ او ژوند مالک اود ټولوکارونومدبرالله تعالی دی، همدارنګه مشرکینو دالله تعالی په خالقیت

باندي هم اقرار کولو لکه په ایت مذکوره کښي الله تعالی په ښه وضاحت سره داسي فرمائلي دي:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ﴾ [الزخرف: ۸۷]

او که چیري تپوس وکړي ته د دوي نه چه چا پیدا کړیدي دا (شفعاء) خامخا دوي به ووایي الله تعالی نو څرنګه اوړیدلی کیږي دوي دتوحید نه.

۲ داچه صرف په توحید ربوبیت باندي اقرار کولو سره ا نسان دجهنم نه نجات نشي حاصلوي ددي وضاحت دایت کریمه داخري حصي نه کیږي.

لکه الله تعالی مشرکینو ته دا تهدید ورکړو چه دعذاب نه ځان ولي نه بچ کوي!؟

﴿فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ﴾ [یونس: ۳۱]

که چیرته دوي صرف په دي اقرار سره دعذاب نه بچکیدل، نو دا تهدید یي ولي ورکولو؟

ابن جریر رحمه الله ددي آیت ﴿لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُ﴾په تفسیر کښي فرمائي، یعني هغوي به تاته ضرور په جواب کښي دا وایي چه ددي هرڅه کونکی الله تعالی دی، ﴿فَقُلْ أَفَلَا تَتَّقُونَ﴾ نوته ورته په جواب کښي ووایه چه ایا ځان نه بچ کوي دشرک نه، یعني تاسو په دي اعتراف کوئ چه دهرڅه مالک الله تعالی دی، او بیا هم دالله تعالی سره شرک کوي او دمعبود

حقیقي نه علاوه نورباطل معبودانو ته رامدد شه وايي نو ایا تاسو دالله تعالی دعذاب نه نه ویریږي[1].

او هر چه دمشرکینو داګمان دی، چه د (لااله الا الله) مطلب او مقصد دادی، چه دالله تعالی نه سوا بل څوک خالق رازق او مدبر نشته.

او دا ددي کلمي مطابقي معنی ده، لفظ د تولې معنی سره مطابق دی، یعني دکلمي طیبي نه مراد صرف توحید ربوبیت دی، داګمان ددوي باطل دی. ځکه چه چا ته الله تعالی په قران کریم کښې دغور فکر او سوچ توفیق ورکړی وي، او درسول الله صلی الله علیه وسلم په سیرت کښې سوچ او فکر اوکړي او درسول الله صلی الله علیه وسلم په دعوت کښې سوچ او تدبر اوکړي نو په اسانۍ سره به ورته واضحه شي چه دمشرکینو داګمان چه د (لااله الا الله) نه مراد صرف توحید ربوبیت دی، باطل او خطاء دی. ځکه چه الله تعالی ددي کلمې (لااله ا لاالله) معنی په قران کریم کښې بیان کړیده، اوددي وضاحت يي بل چاته ندی حواله کړی، لکه الله تعالی ددي کلمي (لااله الاالله) معنی داسي بیان کړیده چه د الله تعالی نه سوا دبل چا نه دعبادت نفي کول او صرف یواځي دالله تبارک وتعالی لپاره عبادت ثابتول لکه الله تبارک وتعالی فرمايي:

﴿ وَإِذْ قَالَ إِبْرَٰهِيمُ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦٓ إِنَّنِى بَرَآءٌ مِّمَّا تَعْبُدُونَ ﴿٢٦﴾ إِلَّا ٱلَّذِى فَطَرَنِى فَإِنَّهُۥ سَيَهْدِينِ ﴿٢٧﴾ وَجَعَلَهَا كَلِمَةًۢ بَاقِيَةً فِى عَقِبِهِۦ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾

[الزخرف: ٢٦–٢٨]

---

(١) تفسير ابن جرير: (٧– ١١٤).

او کله چه وویل ابراهیم علیه السلام پلار خپل او قوم خپل ته یقینا زه بیزاره یم د هغه چا نه چه تاسو یي بنده ګۍ کوي. مګر هغه ذات چه زه یي پیدا کړی یم نو هغه به ماته لار ښايي. او پاتي کړه الله تعالی دا کلمه باقي په اولاد دهغه کښي. دي لپاره چه دوي اوګرځي دګمراهۍ نه.

فا ئده: هرلفظ چه په یوه معنی دلالت کوي. دهغي دري اقسام دي.

## ددلالت قسمونه:

١ دلالت مطابقت یا دلالت تطابق: هرکله چه دلفظ نه پوره معنی واخستی شي دیته دلالت مطابقي وایي ځکه چه لفظ دمعنی سره مطابق شو.

٢ دلالت تضمني: هرکله چه دلفظ د پوره معنی نه یوه جزئي معنی واخستي شي دیته دلالت تضمني وایي. ځکه چه دغه جزئي معنی په پوره معنی کښي یو جزء وي دکومي لپاره چه لفظ وضع شوی وی.

٣ دلالت التزامي: هرکله چه دلفظ نه یوه داسي معنی واخستي شي کومه چه د لفظ دمعنی سره لازمه وي دیته دلالت التزامي وایي[1].

**فائده:** علامه عبد الرحمن بن القاسم –رحمه الله– فرمائي: چه ددي عظیمي کلمي (لا اله الا الله) معنی داده چه دالله تعالی نه سوی هیڅ معبود برحق او معبود حقیقي نشته دی، بلکه دالله تعالی نه سوا چه څومره باطل الهه

(١) شرح القصيدة النونية: الابن القيم – خليل الهراس: (٢– ١٣٥).

دي دهغوي عبادت سراسر باطل او ګمراهي ده، او همدارنګه د (لا اله الا الله) دلالت په توحید الوهیت باندي دلالت مطابقي دی، او هرچه بعضي جاهلان داګمان کوي چه ددي کلمي معنی صرف داده چه نشته دی خالق رازق اومدبر مګر یو الله دی، دا ګمان خطاء دی ځکه چه د (لا اله الا الله) معنی توحید الوهیت دی، اګر که دا معنی چه نشته دی خالق رازق او مدبر مګر یو الله دی، ددي کلمي یوجزء دی، لیکن په حقیقت کښي داکلمه دتوحید الوهیت لپاره وضع شویده، یعني په اخلاص سره یواځي دالله تبارک وتعالی عبادت کول او ټول انواع دعبادت دالله تعالی لپاره خاص کول[1] هغه کومه کلمه وه کومه چه ابراهیم علیه السلام په خپل اولاد کښي باقي پریښي وه؟ او دخپل قوم سره د وینا په مهال یي دهغي معنی مقدمه کړه هغه داچه دهر معبود من دون الله نه دبراءت اعلان او دیو الله تعالی واحد لاشریک ذات لپاره یي دعبادت ګواهي ورکړه.

عکرمه، مجاهد، ضحاک، قتادة، اوسدي، وغیره مفسرینو دا فرمائلي دي: چه مراد دهغي کلمي نه کومه چه په قران کریم کښي وارده ده، او ابراهیم علیه السلام په خپل اولاد کښي باقي پریښي وه هغه کلمه دتوحید (لا اله الا الله) ده[2].

علامه ابن کثیر فرمائي: چه ددي کلمي مقصود اومطلوب دادی، چه یواځي په اخلاص سره دالله تعالی واحد لاشریک ذات عبادت وکړیشي، او دالله

(۱) حاشیه ثلاثة الاصول: (۵۰).
(۲) تفسیر ابن کثیر: (۴/۲۱۹).

تعالی نه سوا چه څومره باطل معبودان دي دهغي نه براءت وکړيشي، ځکه چه معبود برحق صرف اوصرف يو الله تبارک وتعالی دی[1].

دالله تعالی داقول هم د (لا اله الا الله) معنی ښه واضحه کوي.

﴿إِنَّهُمۡ كَانُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَهُمۡ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا ٱللَّهُ يَسۡتَكۡبِرُونَ﴾ [الصافات: ٣٥]

﴿وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٖ مَّجۡنُونِۭ﴾ [الصافات: ٣٦]

يقينا دوي وو. چه کله به وويل شو دوی ته نشته حقدار دبنده ګۍ سيوا د الله تعالی نه نو دوي به لويي کوله، او دوي به وويل ايا پريږدو مونږ معبو دان خپل له وجي دشاعر ليوني نه.

په دي ايت کريمه کښې ددي خبري واضح دليل دی، چه د (لا اله الا الله) پوره معنی دانده چه دالله تعالی نه سوا بل خالق رازق او مدبر نشته، بلکه پو ره معنی يي داده چه دالله تعالی نه بغيربل هيڅوک دعبادت حقدار نشته او يواځي په اخلاص سره بايد دالله تعالی عبادت اوکړيشي، او په دي باندي مشرکين هم پوهيدل ځکه يي ددي کلمي نه انکار کولو. او که چيرته ددي کلمي معنی همدغه وی، يعني چه دالله تعالی نه بغير بل څوک خالق رازق نشته نوپه دي باندي خو مشرکينو هم اعتراف کولو نو بيا مشرکينو د (لا اله الا الله) نه ولي انکار کولو؟

سؤال پيدا کيږي چه دقريشو مشرکينو ددي کلمي نه کوم مقصداو معنی اخستي وه واضحه ده چه دقريشو مشرکينو ددي کلمي نه صحيح مطلب

(١) تفسير ابن کثير: (٤– ٩٢١).

او معنی اخستي وه هغه داچه دالله تعالی نه سوا ټول معبودان پریښودل اودهغي نه دبراءت اعلان کول او یواځې په اخلاص سره دالله تعالی عبادت او بنده ګي کول، ددي وجي نه کله چه به دوي ته ددي کلمي دعوت ورکړی شو نو داسي به یي ویل:

﴿ وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُوٓاْ ءَالِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَّجْنُونٍۭ ﴾ [الصافات: ٣٦]

او دوي به وویل ایا پریږدو مونږ معبو دان خپل له وجي دشاعر لیوني نه.

دمشرکینو په نیز باندي د (لا اله الا الله) کلمي همدا معنی وه چه دالله تبارک وتعالی نه سوا نور ټول معبودان پریښودل، او ددي حقیقي معني کومه چه مشرکینو ددي کلمي نه فهم کړیوه زیات تاکید هغه وخت وشو کوم وخت چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم دوي ته دادعوت ورکړو چه

(قولوا: لااله الا الله) تاسودا اقراروکړی چه دالله تعالی نه سوا بل معبود حقیقي نشته، نو دي مشرکینو په جواب کښې داسي وویل:

﴿ أَجَعَلَ ٱلْـَٔالِهَةَ إِلَٰهًا وَٰحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَىْءٌ عُجَابٌ ﴾ [ص: ٥]

آیا جوړ کړیدي ده ډیر معبودانولره معبود یو یقینا دا څیز ډیر نا اشنا دی.

کفار او مشرکین په دي پوهه شوی وو، چه ددي کلمي پوره معنی داده چه دالله تعالی نه سوا نور ټول معبودان پریښودل او دیو معبود حقیقي الله تبارک وتعالی عبادت او بنده ګي کول.

علامه ابن کثیررحمه الله فرمايي: آیا ده داګمان کړیدی، چه معبود صرف

یودی، او دهغه نه علاوه بل هیڅ معبود نشته، مشرکینو ددینه انکار کولو، (الله تعالی دي دوي رسوا کړي) او دالله تعالی سره په شرک نه کولو باندي يي تعجب کولو، ځکه چه مشرکینو ته دبتانو عبادت دپلار نیکه نه په میراث کښي پاتي شوی وو.

او دبتانو محبت يي زړونو ته داخل شوی وو[١] دقران کریم ددي مبارکو ایاتونو نه دا حقیقت ښه واضح شو چه په کلمه دتوحید کښي د (اله) معنی ده معبود برحق او په دي باندي دعلماء اجماع ده، په خلاف دقبر پرستو مشرکینو چه هغوي په ګمراهی سره دا اعتقاد لري چه د (لا اله الا الله) معنی ده لاخالق او لاقادر على الاختراع الا الله) یعني دالله تعالی نه سوا بل خالق رازق نشته، او ددوي داخیال دی، چه دوي کله داکلمه ووايي نو دتوحید اخري درجي ته ورسیږي اګرکه دغیر الله لپاره عبادت کوي[٢].

## د اول اصل او قاعدي دشرحي خلاصه:

١ هغه مشرکین او کفار دکومو سره چه نبي کریم صلی الله علیه وسلم قتال (جنګ) کړی وو، هغوي هم په توحید ربو بیت باندي اقرار او اعتراف کولو، لیکن دي اقرار او اعتراف هغوي په اسلام کښي داخل نه کړل، او نه يي دهغوي ويني اومال محفوظ کړ.

٢ دقبر پرستو مشرکینو همدا عقیده ده چه د (لا اله الا الله) معنی

(١) تفسيرالقران العظيم: (٤/٨٢).
(٢) تيسير العزيز الحميد: سليمان بن عبد الله بن محمد بن عبدالوهاب

صرف توحید ربوبیت دی، او په دې اقرار سره انسان مسلمان معرفي کیږي او په اسلام کښې داخلیږي وینه اومال یې محفوظ کیږي، لیکن دقران کریم او نبوي احادیثو دد لائلو په رڼا کښې دا اعتقاد سراسر باطل دی.

# دوهم اصل او قاعده

**مشرکین وايي**: چه غیرالله طرف ته زمونږ توجه ددي لپاره ده چه په دي سره مونږ شفاعت او قرب الهي حاصلوو، ددي قربت متعلق الله تعالی فرمايي:

﴿ وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَ مَا نَعۡبُدُهُمۡ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلۡفَىٰٓ إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ بَيۡنَهُمۡ فِي مَا هُمۡ فِيهِ يَخۡتَلِفُونَۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ ﴾ [الزمر: ۳]

او هغه کسان چه نیولي دي سیوا دالله تعالی نه مددګاران (وايي) بندګي نه کوو مونږ ددوي مګر ددي لپاره چه نیزدي کړي مونږ الله تعالی ته په نیزدي کولو سره یقینا الله تعالی به فیصله وکړي په مینځ ددوي کښي په هغه څیز کښي چه دوي په هغي کښي اختلاف کوي یقینا الله تعالی توفیق نه ورکوي هغه چاته چه ډیر دروغژن دی، ډیر کفر کونکی دی.

او دشفاعت متعلق الله تعالی داسي فرمايي:

﴿ وَيَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمۡ وَلَا يَنفَعُهُمۡ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ ﴾ [یونس: ۱۸]

او بندګي کوي داخلق سیوا دالله تعالی د هغه څه چه نه ضرر رسولی شي

دویته او نه نفع رسولی شي دویته او وایي دوي چه داکسان سفارشیان زمونږ دي په دربار دالله تعالی کښې.

### دشفاعت دوه قسمه دي:

١ ناجائزاو ناروا شفاعت.

٢ جائز او مشروع شفاعت.

ناجائز اوناروا شفاعت: دغیرالله نه داسي څیزونو غوښتل په کومو باندي چه دالله تعالی نه علاوه بل څوک قادر نه وي، لکه الله تبارک وتعالی فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خُلَّةٞ وَلَا شَفَٰعَةٞۗ وَٱلۡكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴾ [البقرة: ٢٥٤]

ای ایمان والو خرچ کوي دهغي نه چه درکړیدي مونږ تاسوته مخکي ددینه چه رابه شي ورځ (دقیامت) نه به وي خرڅول په هغي کښې او نه دوستانه او نه به وي سفارش، او کافران دوي لوي ظالمان دي.

**مشروع او جائز شفاعت**: داهغه شفاعت دی، کوم چه دالله تعالی نه طلب کیږي، او په دیکښې دشفاعت کونکې اکرام، اواحترام وي څکه چه دهغه شفاعت قبول کړیشي.

اوشفاعت به دهغه چا په حق کښې قبلیږي دچا دقول او عمل نه چه الله تعالی خوشحاله او راضي وي لکه الله تعالی فرمايي:

﴿مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ﴾ [البقرة: ٢٥٥]

څوک دی هغه کس چه سفارش اوکړي په نيز دده، مګر دده په اجازه سره.

دمشركينو او كفار ود قربت (نيز ديكت) او شفاعت لپاره دغير الله نه غو ښتل او دغير الله طرف ته متوجه كيدل ددوي يو مهم اصل دی، ځكه چه موضوع دشفاعت سره ددي اصل ډير ژور ربط او تعلق دی، ددي وجي نه د مخكني او وسني دور مشركان دشفاعت په بهانه دالله تبارک وتعالی سره شرک كوي.

### دشفاعت لغوي معنی:

شفاعت په عربي ژبه كښي دتاق په مقابله كښي راځي، لكه جفت او تاق، كله چه ووېل شی (شفع لي، يشفع، شفاعة، ويتشفع) نو ددي معنی طلب دشفاعت وي، دشافع جمع شفعاء راځي، او چه كله ووېل شي (استشفعه) نو معنی يي داوي چه دهغه نه يي شفاعت طلب كړو[١].

### دشفاعت شرعي معنی:

دشفاعت ډير تعريفونه شويدي، چه دهغي دجملي څخه يو دادی: بل چا ته دفائدي لپاره او يا دهغه نه ضرر دفعه كولو لپاره وسيله او زريعه جوړيدل[٢].

(١) لسان العرب: (٨/١٨٣-١٨٤).
(٢) شرح لمعة الاعتقاد: لابن عثيمن (١٢٨).

دا تعریف دشفاعت لپاره پوره جامع تعریف دی، کوم چه دیني او دنیاوي ټولو کارونو ته شاملیږي.

## دوهم اصل او قاعدي معنی او مفهوم :

د عربو په نیز باندي بت پرستي دشرک یو لوي مظهر رواج شوی وو، تر دي پوري چه په کورونو کښي یي بتان ایښي وو او دهغي عبادتونه به یي کول، بعضي قبائل دعربو داسي هم وو چه دعبادت لپاره به یي خاص قسم بت دخپل ځان لپاره خاص کړی وو، لکه دطی او انعم قبیلو لپاره د (یغوث) په نوم باندي یوخاص قسم بت وو چه دهغي عبادت به یي کولو، او دکلب قبیلي لپاره یو بل بت وو د (ود) په نوم باندي او دهغي عبادت به یي کولو(۱).

دا ډیره دتعجب خبره ده چه ددي بتانو عبادت په ډیره لویه پیماني سره کیدلو سرددینه چه ددي بتانو حقیقت داوو چه صرف دلرګو او یا دکاڼو نه جوړ کړی شوي ول، لیکن د ا بتان دي مشرکینو دیو معبود غائب په شکل کښي ایښي وو او په دي عقیده وو چه دابتان دهغه غائب معبود قائم مقام دي، که نه نو داخبره دخیال او تصور نه ډیره لري ده چه یو عقل مند انسان چه په خپل لاس باندي لرګي او یا کاڼي وتراشي او بت ترینه جوړ کړي او بیا ورته معبود وایي او عبادت یي کوي،(۲) مشرکینو په دي حقیت اعتراف کولو چه خالق صرف الله تعالی دی، مالک او مدبر صرف الله تعالی دی، رزق او

(۱) سیرة ابن هشام: (۱/۹۷).
(۲) اغا ثة اللهفان: لابن القیم (۲-۱۸۲).

روزي ورکول صرف دالله تعالی په لاس کښې ده او دابتان مخلوق دي، لیکن ددي باوجود دامشرکین دبتانو عبادت ته څه شي اماده او تیار کړي وو؟[1]

الله تعالی په دي ایت کریمه کښې ددي وضاحت کړی دی، چه کفارو او مشرکینو دبتانو عبات ځکه کولو چه دوي داعقیده لرله چه دابتان زمونږ لپاره شفاعت کوي دالله تعالی په نیز باندي او مونږ الله تعالی ته نیژدي کوي، هرکله چه دي کفارو او مشرکینو د ملائکو پیغبرانو او نیکانو بندګانو باره کښې داعقیده ولرله چه دا زمونږ سفارشیان دي نو ددوي دمجسمو تصویران یي جوړکړل، او دابه یي ویل چه ددي مجسمو او تصویرانو نه زمونږ سفارش طلب کول په حقیقت کښې ددوي (ملائکو پیغمبرانو او نیکانو) نه سفارش طلب کول دي، او الله تعالی په دوي باندي دشرک او دکفر حکم وکړو[2].

## امام محمد بن عبدالوهاب رحمه الله دا اصل او قاعده ولې بیان کړه؟

مخکې داخبره بیان شوه چه مشرکین ددي وجي نه په شرک کښې واقع شوي ول، چه دوي داعقیده لرله چه دا ملائک پیغمبران او نیکان بندګان زمونږ سفارش کوي او مونږ الله تعالی ته نیږدي کوي، تر دي چه الله تعالی محمد صلی الله علیه وسلم خپل رسول او نبي راولیږه، او نبي صلی

(۱) قاعده في التوسل والوسیله لشیخ الاسلام ابن تیمیه: (۱–۳۸).
(۲) قاعده في التوسل والوسیله لشیخ الاسلام ابن تیمیه: (۳۳).

الله علیه وسلم ښکاره دابیان اوکړو چه دا کفر اوشرک دی، او درب په شان کښي ګستاخي ده.

او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ددي مشرکینوسره جهاد او قتال اوکړو تر دي پوري چه دوي دپلار نیکه باطل عقاید پریښودل، او دیوالله تعالی عبادت یي شروع کړو، لیکن داګمان نه کیده چه بیابه دوباره داسي وخت راځي چه خلک به دشرک په مصیبت کښي اخته کیږي، او دقبرونو عبادتونه به کوي په هغه عذرونو باندي په کومو چه مخکنو مشرکینو دالله تعالی سره شرک کولو، هغه عذرونه ددي نیکانو بندګانو نه سفارش طلب کول دي او ددوي په باره کښي داعقیده لرل دي چه دوي مونږ الله تعالی ته نیژ دي کوي، دهمدي عذرونو په اساس باندي مخکنو مشرکانو دالله تعالی سره شرک کولو.

ددي وجي نه مصنف رحمه الله دا قاعده بیان کړه او ددي وضاحت یي اوکړو چه دا بعینه شرک او کفر دی.

مصنف رحمه الله فرمایي: چه زمونږ په دي زمانه کښي چه غیر الله ته کوم اوازونه کیږي دهغي یو څو قسمه دي:

په دغه قسمونو کښي یو قسم دادی: چه یو شخص دالله نه هم دعاګاني غواړي او ورسره یي دپیغمبر او بزرګ وغیره نه هم غواړي او وایي چه زه له دوینه صرف سفارش غواړم ګني زه په دي پوهیږم چه نفع او نقصان صرف دالله تعالی په لاس کښي دی، او دالله تعالی نه سوا بل هیڅوک دنفع او

نقصان ما لک نه دی، چونکه زه ګناهنګار یم نو ددي نیک انسان پیغبر ولي وغیره نه سفارش طلب کوم، دابعینه هغه شرک دی کوم چه مخکنو مشرکانو کولو، او رسول الله صلی الله علیه وسلم ورسره ترهغه وخته پوري جهاد قتال او جنګ جاري وساته ترڅو چه دوي داشرک پریښود ، او دیو الله تعالی عبادت او بندګۍ یې شروع کړه[١].

## دمخکنو دوه اياتونو نه وجه داستدلال او دهغي وضاحت مخکني دوه اياتو نه دا لاندي حقائق واضحه کوي:

١ دشفاعت او قربت په خاطر دالله تعالی عبادت دغیرالله طرف ته اړول دا دمشرکینو دین دی، الله تعالی دسورت زمر په اول کښې ددي خبري پوره وضاحت کړیدی، مصنف رحمه الله فرمایي: چه دسورت زمر ابتدائي اياتونه تلاوت کړه څکه په دیکښې الله تعالی ددین اسلام او دکفارو دین او دهغي مقاصد بیان کړیدي[٢].

٢ دبنده او دهغي درب په مابین کښې سفارشي (سفارش کونکی) مقرره ول داشرک او کفر دی، او درب العالمین ګستاخي او توهین دی، او ددي لپاره عذر پیش کول هغه ددروغو عذردی چه قابل قبول ندی، ددي خبري دلیل دمذکوره اياتونو په اخرکښې ذکر دی، لکه الله تعالی فرمایلي دي:

---

(١) ا الدرر السنية: (٢/٣٣-٨٤).
(٢) الدررالسنية: (١-٦٠).

﴿سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ﴾ [يونس: ١٨]

پاک دی، الله تعالی او لوي دی، دهغي نه چه دوي دالله سره شريکوي، اوهمدارنګه فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞ كَفَّارٞ﴾ [الزمر: ٣]

يقينا الله توفيق نه ورکوي هغه چاته چه ډير دروغژن وي، ډير کفر کونکی وي.

هرکله چه الله تعالی داواضح اوفرمايل چه دامشرکين دسفارش دطلب کولو دوجي نه په شرک کښې واقع شوي وو، او دخپل ذات مبارک پاکي يي بيان کړه، ددينه معلومه شوه چه دا کار (دنيکانو نه سفارش طلب کول) دالله تعالی په ذات کښې تنقيص او دهغه ګستاخي ده، ځکه چه الله تعالی دخپل ذات مبارک پاکي د بدو صفاتو نه بيانه وي.

او همدارنګه مصنف رحمه الله تعالی دمشرکينو او کفارو دي کار (سفارش غوښتلو) ته دشرک نوم کيښود، پس هرچاچه داکار اوکړو نوهغه دمشرکينو په ډله کښې داخل شو، او په دوهم ايت کريمه کښې يي دمشرکينو دي کار ته لوي کفر ووايه، ځکه چه (کفار) د مبالغي صيغه ده کومه چه په دي خبره دلالت کوي چه داکفر انتهايي درجي ته رسيدلی دی، قبر پرستو ته په دي مسئله د شفاعت کښې داشبهه راغلي ده چه دوي په دي شفاعت سره دالله تعالی دتعظيم اراده کوي، ځکه چه هغوي خپل رب الله سبحانه وتعالی ددنيا په بادشاهانو او حکمرا

نانو باندي قیاس کړیدی، لکه څرنګه چه ددي بادشاهانونه هیڅ یو څیز بغیر دواسطي نه نه غو ښتل کیږي، بلکه ددوي داحترام لپاره دویته واسطه پیش کول ضروري وي، لهذا دالله تعالی ذات خو ددوي نه ډیر زیات حقدار دی، نو ددي وجي نه دا قبر پرست الله تعالی ته داسفارشیان واسطه کوي.

### ددي شبهي جواب:

دا بلکل محال او ناشوني ده چه الله تعالی ددي بادشاهانو پشان وګڼل شي او په دوي د قیاس کړیشي، او دهمدي فاسد قیاس له وجي نه د بتانو عبادت کیږي او کفارو او مشرکینو دالله تعالی نه سوا نور اولیاء دوستان او سفارشیان نیولي دي، او داقیاس ځکه باطل او فاسد دی، چه دخالق او مخلوق په مینځ کښي فرق وي او همدارنګه دخالق او مخلوق او دمالک او غلام مالدار اوغریب په مینځ کښي فرق وي.

رب هغه دی چه هغه قطعا هیچاته محتاج ندی، ځکه چه هغه غني او بې پروا ذات دی، او ټول مخلوق دهر لحاظ نه خپل رب ته محتاجه دي، او هرچه بادشاهان دي نو هغوي خپل قریبي خپلوانو او وزیرانو ته محتاجه وي ځکه چه د باد شاهانو فائدي په دوي پوري متعلقي وي، او هغوي ددي باد شاهانو مدد او مرسته کوي، نو بادشاهان د احتیاج دوجي نه دهغوي سفارش قبلوي، ځکه چه بادشاهان له دینه ویریږي، چه ددي سفارشیانو دشفاعت نه قبلولو په صورت کښي به دبادشاه په اطاعت او فرمانبرداري

کښې نقصان واقع شي، او دوي به ترينه بل طرف ته لاړ شي، نو ددي احتياج له وجې نه باد شاه مجبوره دی چه ددوي سفارش قبول کړي.

ليکن الله تبارک وتعالی ددي ټولو خبرو نه بي پرواه او بي نيازه دی، او دا بي نيازي دالله تبارک وتعالی د ذات مبارک سره لازمه ده، او هرچه مخلوق دی، نو هغه ټول په ټوله کښې خپل خالق ته دهر لحاظ نه محتاجه دي، لکه الله تعالی فرمايي:

﴿لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ﴾

[البقرة: ٢٥٥]

خاص دهغه په اختيار کښې دي هغه څه چه په اسمانونو کښې دي او هغه څه چه په زمکه کښې دي، څوک دی، هغه کس چه سفارش اوکړي په نيز دده، مګر دده په اجازه سره.

په دي ايت کريمه کښې الله تعالی داخبر ورکړيدی، چه دټولو اسمانونو او زمکو او ټولو مخلوقاتو مالک صرف او صرف الله تعالی دی، نو لهذا ټول شفاعتونه هم دالله تعالی په اختيار کښې دي.

او دالله تعالی داجازت نه بغير هيڅوک شفاعت نشي کولاي، ځکه چه دالله تعالی سره هيڅوک شريک نشته دی، ټول دالله تعالی غلامان دي، او هر چه اهل دنيا (دنيا والا) دي نو دوي ديو بل سفارش کولاي شي په دنيا کښې[١].

(١) اغاثة اللهفان: (١/٢٠٣-٢٠٤) وتفسير سعد: (٧١٨).

هرکله چه مصنف دا واضحه کړه، چه مخکني مشرکان دشفاعت په امید په شرک کښې واقع شوي وو، نو ددينه بعد يې دشفاعت اقسام بيان کړه، او دا وضاحت يې اوکړو چه دشفاعت دوه قسمه دي.

۱ **ناروا او ناجائز شفاعت**: دا هغه شفاعت دی، کوم چه الله تعالی نفي کړيدی، اوکفارو مشرکينو او دهغوي پشان په دي امت کښې ناپوهه او بي علمه کسانو روا ګرځولي دی[۱].

ددي ناروا شفاعت تعريف مصنف رحمه الله داسي کړيدی، چه داهغه شفاعت دی، کوم چه دغيرالله نه وغوښتل شي، او همدارنګه دناجائز شفاعت تعريف داسي هم کيدي شي، چه ناجائز شفاعت هغه دی، کوم کښې چه دمشروع او جائز شفاعت دشرطونو نه هيڅ يو شرط نه وي.

مصنف رحمه الله ددي شفاعت دنفي کولو لپاره په دي ايت کريمه سره استدلال کړی وو.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَنفِقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰكُم مِّن قَبۡلِ أَن يَأۡتِيَ يَوۡمٞ لَّا بَيۡعٞ فِيهِ وَلَا خُلَّةٞ وَلَا شَفَٰعَةٞۗ وَٱلۡكَٰفِرُونَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾ [البقرة: ٢٥٤]

ای ايمان والو خرڅ کوي دهغي نه چه درکړيدي مونږ تاسوته مخکي ددينه چه رابه شي ورځ (دقيامت) نه به وي خرڅول په هغي کښې او نه دوستانه او نه به وي سفارش، او کافران دوي لوي ظالمان دي.

۲ **مشروع او جائز شفاعت**: ددي شفاعت تعريف مصنف رحمه الله

(۱) قاعده في التوسل والوسيله: (۲۸۰).

داسي کړېدی، چه دا هغه شفاعت دی، کوم چه صرف دالله تعالی نه وغوښتل شي، بیا ددي شفاعت دوه شرطونه دي:

۱.دسفارش کونکی لپاره دالله تعالی نه اجازت.

۲. دچا لپاره چه شفاعت کیږي، دهغه نه دالله تعالی رضا کیدل، یعني هغه به موحد وي، لکه ابو هریرة رضی الله عنه فرمايي: (أنه قال قيل يا رسول الله من أسعد الناس بشفاعتك يوم القيامة قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لقد ظننت يا أبا هريرة أن لا يسألني عن هذا الحديث أحد أول منك لما رأيت من حرصك على الحديث أسعد الناس بشفاعتي يوم القيامة من قال لا إله إلا الله خالصا من قلبه أو نفسه). ابو هریرة رضی الله فرمايي، چه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه چه دالله رسوله صلی الله علیه وسلم دقیامت په ورځ ستا د شفاعت په سعادت سره څوک زیات مستحق (حقدار) دی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ا وفرمایل: ای ابو هریره زما دایقین وو، چه ددي متعلق به ستانه مخکي څوک تپوس ونکړي. ځکه چه دحدیث متعلق ما ستاډیر حرص ولیده واوره دقیامت په ورځ به زما په شفاعت سره، هغه کس دټولو نه زیات حقدار وي چاچه داکلمه دتوحید (لا اله الا الله) په اخلاص سره ویلي وي، یعني خالص موحد وي.

### د مصنف رحمه الله داقول:

او په دیکښي دشفاعت کونکي اکرام اواحترام وي، په دي جمله کښي دشفاعت دحکمت بیان دی، هغه داچه دشفاعت نه چه کومه

فائده حاصليږي مثلاً ګناهګاران داور نه راويستل او يا دجنتيانو درجي اوچتول، دا الله تعالی دشفاعت نه بغير هم کولاي شي چه ګناهګاران داور نه راوباسي او دجنتيانو درجي اوچتي کړي، ليکن الله تعالی داسي نه کوي بلکه بعضي صالحينو ته، دشفاعت اجازه ورکوي، په ديکښي دالله تعالی ډير لوي حکمت دی، هغه داچه په ديکښي دشفاعت کونکي اکرام او احترام وي، او ددي دوه صورتونه دي.

١ دچاچه شفاعت کيږي، په هغه باندي دشفاعت کونکي فضيلت ظاهرول.

٢ الله تعالی په نيز باندي دشفاعت کونکي مرتبه اومقام ظاهرول [1]

## دشفاعت متعلق يوه مسئله:

هغه داچه دهغه چا څه حکم دی، چه دنبي يا ولي وغيره نه صرف شفاعت غواړي؟ ددي دجواب خلاصه په لاندي څلور مقدماتو سره داسي ممکنه ده:

١ چه شفاعت ددعا يو قسم دی.

٢ دشفاعت اختيار صرف دالله تعالی سره دی، لکه الله تعالی فرمايي: ﴿قُل لِّلَّهِ ٱلشَّفَٰعَةُ جَمِيعًا﴾ ته ووايه اختيار دشفاعت الله تعالی لره دی ټول.

---

(١) القول المفيد: شرح كتاب التوحيد: لابن العثيمين: (٣٤٥-٣٤٦).

۳ هرکله چه شفاعت دالله تعالی ملکیت دی، نو هغه صرف دالله تعالی نه غوښتل پکار دي.

۴ چاچه دالله تعالی نه بغیر دبل چانه دداسي څه طلب اوکړو چه په هغي باندي دالله تعالی نه علاوه بل څوک قادر نه وي نو دا مشرک دی، نتیجه داشوه چه د مخلوق نه شفاعت طلب کول شرک دی.

علامه سلیمان بن عبد الله ال الشیخ –رحمه الله– فرمايي: که دا اعتراض اوکړيشي، چه الله تعالی خو دشرک حکم په هغه چا کړيدی، کوم خلک چه ددي شفعاء (سفارشیانو) عبادت کوي، لیکن کوم خلک چه صرف ددوینه شفاعت طلب کوي، او ددوي عبادت نه کوي، نو لهذا دا شرک ندی.

**ددي شبهي جواب دادی:**

چه دیو شخص صرف سفارشي جوړولو سره هم شرک لازمیږي، ځکه چه یو شخص شفارشي جوړول او شرک دواړه لازم او ملزوم دي.

لکه څرنګه چه شرک سره دالله تعالی توهین او ګستاخي او بي احترامي لازم او ملزوم ده، او داحقیقت دی، برابره خبره ده چه مشرک يي مني او که نه.

لهذا دا سوال اصلا باطل دی، او په خارج کښې هیڅ وجود نلري، او دا هغه شبهه ده کومي ته چه مشرکینو په خپلو دماغو کښې ځاي ورکړيدی.

بلکه دعا عبادت او دعبادت مغز دی، لهذا ددي (انبیاء، ملائک، او نیکان بنده ګانو) نه شفاعتونه غوښتل شرک دی، که څوک يې مني او که نه[1].

شیخ احمد بن عیسی –رحمه الله– فرمايي: الله تعالی دافرمايلي دي چه ټول اقسام دشفاعت دالله تعالی په اختيارکښې دي، نو چاچه دالله تعالی نه بغیر دبل چانه شفاعت طلب کړو، نوګويا که ده دداسي چانه شفاعت طلب کړو چه هغه نه ددي مالک دی، او نه دا اوري او نه څه ورکولای شي، او نه داهغه وخت دی، کوم که چه شفاعت قبليږي، او نه شفاعت کونکی، قدرت لري په شفاعت کولو باندي، مګر هغه څوک چه الله تعالی ورته اذن او اجازه ورکړي او شفاعت يې قبول کړي، لهذا په دنيا کښې د مخلوق نه شفاعتو نه غوښتل شرک عظیم دی[2].

## دوهم اصل او قاعدي دشرحي خلاصه:

١ دشفاعت او قرب الهي دحاصلولو په خاطردغیرالله عبادت کول د مشرکينو او کفارو دين دی.

٢ دبنده اورب په مابين کي سفارشي جوړول شرک اوکفردی او دالله تعالی د ذات توهين او بي احترامي ده.

٣ دقبر پرستو دا دعوه چه په شفاعت سره دوي دالله تعالی دتعظيم اراده او قصد کوي ددينه هيڅ کله تعظيم نه ثابتيږي بلکه دا دالله تعالی

(١) تيسير العزيز الحميد: (٢٣٧).
(٢) الرد على شبهات المستغيثين بغيرالله: (٤٧–٤٨) وفتاوى: (١/٢٤١–١٦٠–١٦١).

توهین او بې احترامي ده ډېر خلک دیوشخص دتعظیم قصد کوي لیکن په حقیقت کښې دهغه توهین او بې احترامي کوي.

۴ په قران کریم کښې دشفاعت دوه قسمه ذکر دي، یو ناروا او ناجائز شفاعت، او دوهم دشرطونو سره جائز او مشروع شفاعت.

۵ دمشروع او جائز شفاعت حکمت دادی، چه الله تعالی په دي سره دشفاعت کونکې فضیلت ظاهره وي او دهغې قدر او منزلت ښکاره کوي.

۶ چاچه د مخلوق نبي یاولي بزرګ وغیره نه شفاعت طلب کړو نو دا مشرک دی.

# دریم اصل او قاعده

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په هغه ټولو خلکو باندي غالبه شو، کوم چه په خپلو عبادتونو کښې متفرق وو، په دوي کښې بعضي خلکو دملائکو عبادت کولو اوبعضي د انبیاو صالحینو (نیکانو) اوبعضو د ونو بتو او کاڼو عبادت کولو، او بعضو نمر او سپوږمۍ ته سجدي کولي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددي ټولو سره قتال (جنګ) اوکړو او ددوي په مابین کښې هیڅ قسمه فرق ونکړو، لکه څرنګه چه الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَقَـٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ﴾

[الانفال: ۳۹]

او جنګ کوي ددوي سره تر دي چه هیڅ شرک پاتي نشي، او دین ټول دالله تعالی لپاره شي.

دنمراو سپوږمۍ دعبادت په باره کښې دالله تعالی فرمان دی:

﴿وَمِنۡ ءَايَـٰتِهِ ٱلَّيۡلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمۡسُ وَٱلۡقَمَرُۚ لَا تَسۡجُدُواْ لِلشَّمۡسِ وَلَا لِلۡقَمَرِ وَٱسۡجُدُواْۤ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمۡ إِيَّاهُ تَعۡبُدُونَ﴾ [فصلت: ۳۷]

او بعضي د دلیلونو دتوحید نه شپه او ورځ او سپوږمۍ دي سجدي مه کوي نمرته او نه سپوږمۍ ته او سجده خاص کوي الله تعالی ته هغه

ذات چه دايي پيداکړيدي که چيري تاسوخاص هغه لره بندګې کوي.
دملائکو دعبادت متعلق الله تعالی داسي فرمايي:

﴿وَلَا يَأۡمُرَكُمۡ أَن تَتَّخِذُواْ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ أَرۡبَابًا﴾ [آل عمران: ٨٠]

او اجازت نه درکوي تاسوته (نبي صلی الله عليه وسلم) چه اوګڼې ملائک او پيغمبران دبندګې حقدار. دپيغمبرانو او رسولانو دعبادت په باره کښې الله تعالی فرمايي:

﴿وَإِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ءَأَنتَ قُلۡتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيۡنِ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ [المائده: ١١٦]

اوکوم وخت چه اوبه وايي الله تعالی، ای عيسی ځوي دمريم، ايا تا ويلي دي خلو ته؟ اونيسي ما او مور ځما دبندګې حقدار سيوا دالله تعالی نه.

دنيکان صالحينو بزرګانو دعبادت په باره کښې داسي فرمايي:

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓ﴾ [الاسراء: ٥٧]

هغه کسان چه دوي ورته رامدد شه وايي، غواړي هغوي خپل رب ته نيزدي والی، چه کوم يو ددوي نه زيات نيزدي وي او اميد لري دوي درحمت دهغه او ويره کوي دعذاب دهغه نه.د ونو بوټو متعلق الله تعالی فرمايي:

﴿أَفَرَءَيۡتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلۡعُزَّىٰ ١٩ وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ﴾ [النجم: ١٩- ٢٠]

ايا تاسو سوچ کړيدی، په حال دلات او دعزی، او دمنات چه دريم يي روستو دی.

په حدیث شریف کښې راغلي دي: عن أبي واقد الليثي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم لما خرج إلى حنين مر بشجرة للمشركين يقال لها ذات أنواط يعلقون عليها أسلحتهم فقالوا يا رسول الله اجعل لنا ذات أنواط كما لهم ذات أنواط فقال النبي صلى الله عليه وسلم: (سبحان الله هذا كما قال قوم موسى اجعل لنا إلها كما لهم آلهة والذي نفسي بيده لتركبن سنة من كان قبلكم)(١).

صحیح. ابو واقد اللیثي رضی الله عنه فرمايي: کله چه رسول الله صلى الله عليه وسلم حنين ته اوتلو نو دمشرکینو په یوه ونه باندي ورتیرشو، چه هغي ته يي ذات انواط ویله دي وني ته به مشرکینو خپلي اسلحي اچولي، نو صحابه کرامو عرض اوکړو ای دالله رسوله زمونږ لپاره هم ذات انواط ونه مقرر کړه، لکه څنګه چه دمشرکینو لپاره ذات انواط ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمایل: سبحان الله ! دا خو بعینه هغه خبره ده کومه چه دموسی علیه السلام قوم کړي وه، چه زمونږ لپاره هم یو معبود مقرر کړه لکه څرنګه چه ددي مشرکانو لپاره معبودان دي، په هغه ذات قسم کوم دچا په په لاس کښي چه زما روح دی! چه تاسو به دمخکنو امتونو پوره تابعداري کوي.

ددریم اصل او قاعدي معنی او مفهوم: اکثرو عربو داسماعیل علیه السلام په دعوت باندي دابراهیم علیه السلام دین قبول کړی وو، او

(١) سنن الترمذي: كتاب الفتن، باب: ماجاء لتركبن سنن من كان قبلكم: ٢١٨٠

دیوالله تبارک وتعالی عبادت یې کولو، او په دین ابراهیمي کښې داخل شوي وو، لیکن دوخت په تیریدو سره دابراهیم علیه السلام دین یې هیر کړو او په شرک کښې واقع شول، او دګمراهۍ په هرکنده کښې حیران وو، بعضو دبتانو عبادت شروع کړو چه هغه په حقیقت د ملائکو، انبیاو او دنیکانو عبادت وو، او بعضو د ونو بوټو او کاڼو عبادت شروع کړو، دوي په همدي حال باندي وو، چه الله تبارک وتعالی خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم راولیږلو، او دا امر یې ورته اوکړو چه ددي ټولو سره قتال (جنګ) وکړي بغیر دفرق کولونه په دوي کښې، ځکه چه دقتال (جنګ) علت هرقسمه شرک ختمول وو، اوبل داچه باید ټول دین دالله تعالی لپآره شي، او په همدي باندي ټول خلک راجمع شي.

امام محمد بن عبدالوهاب رحمه الله دا اصل او قاعده ولې بیان کړه؟ امام رحمه الله او دهغه ملګري په اصل دین یعني په خالص توحید باندي قائم وو، او دي طرف ته یې دعوت ورکولو، او ددي دعوت په خاطر یې دقبرپرستو مشرکانو په خلاف دقران قوي دلائلو په رڼا کښې دهغوي شرک ثابته وو. او ددي قبر پرستو جواب به صرف داوو، چه دا ایاتونه خو دهغه چا په باره کښې نازل شویدي، کوم چه دبتانو عبادت کوي، نو تاسو څرنګه انبیاء او بزرګان دبتانو سره برابره وي. ددي شبهې د جواب لپاره مصنف رحمه الله دا اصل او قاعده ذکر کړه چه داخبره ښه واضحه شي.

چه درسول الله صلی الله علیه وسلم دبعثت په وخت کښې صرف د بتانو عبادت نه وو بلکه مختلف باطل معبودان وو، چه دهغوي عبادت

کیدلو، بعضي خلک داسي هم وو، چه دانبیاو او ملائکو عبادت یي کولو، لیکن الله تعالی ددوي په مابین کښې هیڅ فرق ندی کړی، لکه مصنف رحمه الله فرمایي:

پوهه شه (الله تعالی دي تاته هدایت اوکړي) چه دنیا دشرک نه ډکه ده، کومو خلکو چه بزرګانو ته د اعتقاد او محبت نوم ایښی دی، دا حقیقت به تاته په څلورو خبرو سره واضحه شي. او همدارنګه بعضي خلک دا وایي، چه دا ایاتونه دهغه چا په باره کښې دي، چه دبتانو نه شفاعت غواړي، او مونږ خو د نیکانواو بزرګانو نه شفاعت طلب کوو، نو د الله تعالی په دي ارشاد باندي غور ورکړه، امید دی، چه ته به پوهه شي چه داخلک څومره ناپوهه دي درسول الله صلی الله علیه وسلم په دین باندي!

﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ ﴾ [الاسراء: ٥٧]

هغه کسان چه دوي ورته رامدد شه وایي[١].

## ددي اصل او قاعدي دوه مهم مضامین:

١ هر مشرک چه دغیرالله عبادت کوي هغه ته دقتال عمومي اعلان، برابره خبره ده که دبت عبادت کوي، یا دولي بزرګ او کاڼي بوټي وغیره، ددي دلیل داقول دالله تعالی دی:

﴿ وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ ﴾

[الانفال: ٣٩]

(١) الد رر السنیة: (١/١٦٠).

او جنګ کوي ددوي سره تر دي چه هیڅ شرک پاتي نشي، او دین ټول دالله تعالی لپاره شي.

**وجه داستدلال**: دقتال (جنګ) علت هغه دشرک وجو ددی، او دا دمشرکینو هر فرد ته شامل دی، برابره خبره که دبت عبادت کوي، یا دولي بزرګ او کاڼي بوټي وغیره.

۲ دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دبعثت په وخت کښې مختلف باطل معبودان وو، چه بعضي دهغي نه په دي ډول وو.

### دنمر او سپوږمۍ عبادت کیدلو:

ددي دلیل دالله تعالی دا فرمان دی:

﴿وَمِنْ ءَايَـٰتِهِ ٱلَّيْلُ وَٱلنَّهَارُ وَٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا۟ لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ ٱلَّذِى خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ﴾

[فصلت: ۳۷]

او بعضي د دلیلونو دتوحید نه شپه او ورځ او سپوږمۍ دي، سجدي مه کوي، نمر ته او نه سپوږمۍ ته، او سجده خاص کوي الله تعالی ته هغه ذات چه دا يي پیدا کړیدي، که چیري تاسو خاص هغه لره بندګې کوي.

الله تعالی او دهغه رسول علیه السلام چه کوم کفار او مشرکین د شرک په وصف سره متصف کړیدي، هغه دوه قسمه دي، دنوح علیه السلام قوم او دابراهیم علیه السلام قوم.

دنوح علیه السلام دقوم اصلي شرک هغه دبزرګانو په قبرونو باندي ودریدل او بیایي دهغو مجسمي جوړي کړي، او عبادت به یي ورله کولو.

او دابراهیم علیه السلام دقوم اصلي شرک هغه دنمر سپوږمۍ او دستورو عبادت کول وو، دي قسمه مشرکینو ته به یي صابئین ویل او دوي په عراق کښي وسیدل، لکه الله تعالی ددوي واقعه په سورت انعام کښي بیان کړیده، بیا دمشرکینو داعقیده قوم سبا ته نقل شوه کوم چه په یمن کښي اوسیدل، او دنمر عبادت به یي کولو، لکه الله تعالی په سورت نمل کښي ددي وضاحت کړیدی.

**فائده**: ابن القیم رحمه الله فرمايي: چه صائبین په لوي امتونو کښي یوامت دی، ددوي په باره کښي علماو کافي اختلاف کړیدی، په دي صابئینو کښي مؤمنان هم شته او همدارنګه کافران هم، لکه الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلنَّصَٰرَىٰ وَٱلصَّٰبِـِٔينَ مَنْ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْأَخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ [البقرة: ٦٢]

یقینا هغه کسان چه ایمان یي راوړي دی، او هغه کسان چه یهو دیان دي، او نصاری او صابیان، چاچه ایمان راوړو ددوینه په الله تعالی او په ورځ روستنۍ، او عمل یي اوکړو نیک په طریقه دپیغمبر پس دوي لره ثواب د عمل ددوي دی، په نیز درب ددوي، او نه به وي هیڅ ویره په دوي باندي، او نه به دوي غمژن شي.

دعربو په بتانو کښې یوبت وو، دهغه نوم (شمس) وو، ددي وجې نه هغوي به د عبد شمس نوم کینښوده، او همدارنګه (شمس) هغوي دیو معبود نوم هم ګرځولی وو، او داهم ذکر شویده، چه دکنانه قبیلې بعضې خلکو د سپوږمۍ عبادت هم کولو[1].

په یمن او شام کښې ډیروخلکو دصابیانو دین اختیار کړی وو، او بیا د نوي نوي دینونو په راتګ سره دصابیانو دین ختم شو[2] نبي کریم صلی الله علیه وسلم دنمر دراختلو او پریوتلو په وخت کښې دلمانځه نه منع فرمایلي ده ځکه چه دمشرکینو سره مشابهت رانشي، او دشرک زریعه او دروازه بنده شي، اوهمدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم ددي خبر ورکړیدی، چه نمر د شیطان د دوه ښکرویه مینځ کښې راخیژي او پریوځي، او په دي وخت کښې مشرکین نمر ته سجدي کوي[3].

## نبي کریم علیه السلام دبعثت په وخت کښې دملایکو عبادت:

دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دبعثت په وخت کښې چه دکومو معبودانو عبادت کیدلو په هغوي کښې ملائکې هم وي، لکه دالله تعالی په دي قول کښې ذکرشو:

﴿ وَلَا يَأْمُرَكُمْ أَن تَتَّخِذُواْ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةَ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ أَرْبَابًا ﴾ [ال عمران: ۸۰]

(۱) التحریر والتنویر: (۱۱/۲۹۹) – اغاثة اللهفان: (۲/۲۰۳).
(۲) الرحیق المختوم: (٤٦–٤٧).
(۳) مسلم: (۸۳۲).

او اجازت نه درکوي تاسوته (نبي صلى الله عليه وسلم) چه اوګنې ملائک او پيغمبران دبندګۍ حقدار. او همدارنګه الله تعالى په بل ځاي کښې فرمايي:

﴿وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ يَقُولُ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ أَهَٰٓؤُلَآءِ إِيَّاكُمْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ﴿٤٠﴾ قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ أَنتَ وَلِيُّنَا مِن دُونِهِم ۖ بَلْ كَانُوا۟ يَعْبُدُونَ ٱلْجِنَّ ۖ أَكْثَرُهُم بِهِم مُّؤْمِنُونَ﴾ [سبأ: ٤٠-٤١]

او په هغه ورځ چه راجمع به کړي ټول، بيابه وايي ملائکو ته ايا داهغه کسان دي چه تاسوله يې عبادت کوو، دوي به وايي پاکي ده تالره ته زمونږ واکدار يې، داخلق نه دي مګر دوي بندګې کوله دپيريانو ډيرو ددوي په هغوي باندي يقين لرلو.

الله تعالى به دملائکو نه تپوس کوي، چه ايا تاسو دي مشرکينو ته دا امر کړی وو، چه زمونږ عبادت کوي، ملائک به دالله تعالى دذات پاکې بيان کړي چه دالله تعالى سره هيڅ قسم شريک نشته او وبه وايي چه دويته شيطانانو دا امر کوو[١].

پيريان دکفارو او مشرکينو سره خبري کوي او په بعضي کارونو کښې ورسره مدد کوي بيا مشرکين داګمان کوي چه دوي دملائکو عبادت کوي ليکن په حقيقت کښې دوي د پيرانو عبادت کوي[٢].

(١) تفسير ابن كثير: (٣/٨٦٢).
(٢) قاعده في التوسل والوسيله: (٣٩).

## نبي کريم عليه السلام دبعثت په وخت کښي دانبياو عبادت:

دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دبعثت په وخت کښي چه دکومو معبودانو عبادت کيدلو په هغوي کښی انبيا اورسولان هم وو، لکه الله تعالى فرمايي:

﴿وَإِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ءَأَنتَ قُلۡتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيۡنِ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ [المائده: ١١٦]

او کوم وخت چه اوبه وايي الله تعالى، اى عيسى ځوي دمريم، ايا تا ويلي دي خلکو ته اونيسي ما او مور ځما دبندګۍ حقدار سيوا دالله تعالى نه؟

## نبي کريم عليه السلام دبعثت په وخت کښي د بزرګانو عبادت او بندګي:

دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دبعثت په وخت کښي د بزرګانو عبادت هم کيدلو، لکه دالله تعالى ارشاد دى:

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ يَبۡتَغُونَ إِلَىٰ رَبِّهِمُ ٱلۡوَسِيلَةَ أَيُّهُمۡ أَقۡرَبُ وَيَرۡجُونَ رَحۡمَتَهُۥ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُۥٓ﴾ [الاسراء: ٥٧]

هغه کسان چه دوي ورته رامدد شه وايي، غواړي هغوي خپل رب ته نيزدي والى، چه کوم يو ددوي نه زيات نيزدي وي، او اميد لري دوي درحمت دهغه او ويره کوي دعذاب دهغه نه.

## مصنف رحمه الله فرمايي:

دبعضي سلفو نه داسي نقل دي: بعضي قومونه داسي وو، چه د مسیح (عیسی علیه السلام) عزیر علیه السلام او دملایکو عبا دت به يي کولو، نو الله تعالی ورته وفرمایل، چه دوي خو زما داسي بندګان دي لکه څرنګه چه تاسو زما بندګان يي، او دوي زما درحمت داسي امید لري لکه څرنګه چه تاسو امید لری، او دوي زما دعذاب نه داسي ویریږي لکه څرنګه چه تاسو ویریږي(۱).

دعزیر علیه السلام په باره کښې دا اختلاف دی، چه آیا دا نبي دی او که نه؟ ابن کثیر رحمه الله فرمايي: چه مشهوره داده چه دا د بني اسرائلو دانبیاو نه یو نبي دی، او د داود علیه السلام سلیمان علیه السلام او د زکریا علیه السلام یحي علیه السلام په مابین کښې تیر شوی دی، ددینه داخبره واضحه شوه، چه په دي ایت کریمه کښې دملائکو او انبیاو دعبادت ذکر دی، او مصنف رحمه الله ددي دلیل هم مخکښي ذکر کړیدی، او دا ایت کریمه مصنف رحمه الله ددي لپاره دلته ذکر کړیدی، چه دلیل پیش کړي، په دي خبره چه مشرکین دنیکانو خلکو عبادت اوبندګي کوي، نو ددي ایت کریمه دنیکانو خلکو په عبادت باندي څنګه استدلال کیږي؟

## ددي ایت نه استدلال په دوه طریقو سره:

۱ ملائک او انبیاء په ټولو مخلوقاتو کښې صالح او نیک مخلوق دی.

(۱) الدرر السنية: (۱/۱٤٥).

٢ عامه فقهي قاعده ده، چه په قران او حديث کښې اعتبار عامو الفاظو ته وي نه خصوصي سبب ته، پس دا ايت کريمه شامل دی، هر معبود من دون الله ته يعني هر هغه معبو د ته چه دالله تعالی نه ما سوا دهغي عبادت او بندګي کيږي، او هغه دالله تعالی دتقرب ذريعه جوړه وي، او دهغي نه اميد او طمع کوي، نو په ديکښې دانبياو نه علاوه نيکان خلک بزرګان وغيره ټول داخل دي، او همدارنګه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم دبعثت په وخت کښې دپيغمبرانو نه علاوه دنورو نيکانوبزرګانو عبادت هم کيدلو.

لکه نصارى دعيسى عليه السلام دمور (مريم عليه السلام) په عبادت کښې اخته شوي وو، لکه دالله تعالی فرمان دی:

﴿وَإِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ءَأَنتَ قُلۡتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيۡنِ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾ [المائده: ١١٦]

او کوم وخت چه اوبه وايي الله تعالى، اى عيسى ځوي دمريم، ايا تا ويلي دي خلکو ته اونيسي ما او مور ځما دبندګې حقدار سيوا دالله تعالى نه؟

او همدارنګه د (لات) عبادت هم کيدلو دا يو سړی وو، چه حاجيانو ته به يي د ستوانو طعام ورکولو، چه کله وفات شو نو دوي ورباندي يو مزار جوړ کړو او عبادت به يي ورلره کولو،[1] دامعنى د ايت نه په تشديد (اللات) يعني په (ت) باندي شد ويلو سره ثابتيږي، او دا دعبدالله بن عباس رضى الله عنهما، قراءت دی.

(١) تفسير ابن كثير: (٤/٢٥٥).

## نبي کريم عليه السلام دبعثت په وخت کښي د کاڼو او بوټو عبادت:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دبعثت په وخت کښي چه دکومو معبودانو عبادت کيدلو په هغي کښي کاڼي او بوټي هم شامل وو، لکه الله تعالی فرمايي:

﴿أَفَرَءَيۡتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلۡعُزَّىٰ ١٩ وَمَنَوٰةَ ٱلثَّالِثَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ﴾ [النجم: ١٩- ٢٠]

ايا تاسو سوچ کړيدی، په حال دلات او دعزی، او دمنات چه دريم يي روستو دی.

دطائف په ښارکښي يو سپين تراشلی ګټ وو او يوکور ورباندي جوړ شوی وو، او دا په چارديواری کښي اېښی وو، او پردي ورباندي غوړيدلي وې، ګير چاپيره تري يو پراخه ساحه وه، اوداد طائف والاو په نظرکښي ډير محترم وو، او د ونو بوټو دعبادت دليل دادی، چه (عزی) ديوې وني نوم وو، چه يوکور ورباندي جوړ شوی وو، پردي ورباندي هم غوړيدلي وي او دکجورو په يو باغ کښي وه. (مرجع السابق) دونو په عبادت باندي حديث د ذات انواط په صراحت سره دلالت کوي، ځکه چه مشرکينو (دبيري وني) ته خپلي اسلحي اچولي او برکت به يي تري حاصلولو.

## ددريم اصل او قاعدي دشرحي خلاصه:

١ درسول الله صلی الله علیه وسلم دبعثت په وخت کښي چه دکومو معبودانو عبادت کيدلو نوهغه مختلف او متنوع وو، صرف په بتانو پوري

محدود نه وو، بلکه دانبیاو اوصالحینو وغیره عبادت هم کیدلو، ددي وجي نه هغه ایاتونه چه دشرک متعلق نازل شویدي نو هغه په خپل عموم باندي باقي دي، او هغه ټولو معبو دانو ته شامل دي دکومو عبادت او بندګې چه کیږي بغیر دالله تبارک وتعالی نه، همدارنګه ددوي له جملي څخه عبادت د نیکانو او بزرګانو هم دی.

۲ دالله تبارک وتعالی دعبادت نه علاوه دنورو معبودانو عبادت کونکو سره عموما دقتال (جنګ) حکم دی، برابره خبره ده که دامعبود ملائک وي که نبي وي یاولي بزرګ وغیره وي، بغیر دالله تبارک وتعالی نه.

دقبر پرستو دمسلک رد کول او باطلول، ځکه چه قبر پرست مشرکین هغه ټول ایاتونه چه دشرک متعلق نازل شویدي، خاص کوي دبتانو عبادت پوري، او کوشش کوي چه د بزرګانو عبادت جائز کړي، او داعقیده ددوي سراسر ګمراهي ده.

# څلورم اصل او قاعده

داوسنی دور مشرکين ډير سخت دي په شرک کښې دمخکنيٍ دوردمشرکينو نه، ځکه چه مخکنو مشرکينو به دخوشحالۍ په وخت کښې دشرک ارتکاب کولو، او دپريشاني او سختۍ په وخت کښې به يې صرف الله تبارک وتعالی ته رجوع کوله په اخلاص سره، او هرچه زمونږ دزماني مشرکان دي، نو دوي په هر وخت کښې که خوشحالي وي، اوکه سختي وي دالله تبارک وتعالی سره شرک کوي، لکه الله تبارک وتعالی فرمايي:

﴿ فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴾ [العنكبوت: ٦٥]

هرکله چه دوي سواره شي په کشتۍ کښې رابلي دوي الله تعالی لره اخلاص کوي دهغه په بلنه کښې پس هرکله چه بچ کړي دوي لره اوچې ته دغه وخت دوي شريک جوړوي دالله تعالی سره.

دڅلورم اصل اوقاعدي معنی او مفهوم:

دا اصل او قاعده انتهايي واضحه او روښانه ده ليکن افسوس غم او فکر ددي خبري دی، چه ښکه دټولو نه غوره دين اسلام طرف ته خپل ځان منسوبه ونکي خلکو شرک د مخکنو مشرکانو دشرک نه ډير زيات

دی، ځکه چه دوي په هر حالت کښې خوشحالي وي که سختي دشرک ارتکاب کوي، اوهر چه مخکني مشرکان وو نو هغوي به په مشکلاتو تکلیفونو اوسختو حا لتونو کښې صرف اوصرف دعاګاني دالله تبارک وتعالی نه غوښتلي.

## ددې قاعدې مفهوم:

مصنف رحمه الله ددې قاعدې په په بیانولوسره خپل مقصد بیان کړوهغه داچه مصنف رحمه الله دابیانول غواړي چه داوسني دور مشرکین ډیر سخت او زیات دي، په شرک کښې دمخکني دورمشرکینو نه.

## مصنف رحمه الله فرمايي:

چه زمونږ دزماني مشرکین د عهد نبوي دکفارو اومشرکینو نه ډیرزیات مخکي دي په شرک کښې، ځکه چه دنبوي عهد مشرکینو او کفارو دملائکو اولیاو بزرګانو نه دعاګاني غوښتلې، اود هغوي نه يي شفاعت او قرب الهي طلب کولو، لیکن هغوي دا اقرار کولو چه هرڅه دالله تعالی په اختیار کښې دي، اوبل داچه هغوي به صرف دخوشحالۍ په وخت کښې دشرک ارتکاب کولو، او چه کله به دتکلیف اومشکل سره مخامخ شو نوبیابه يي صرف الله تعالی ته په اخلاص سره توجه کوله[1].

مصنف رحمه الله داهم واضحه کړه چه اوسني دور مشرکین څنګه زیات دي په شرک کښې د مخکني دور دمشرکینو نه؟

---

(۱) الدرر السنية: (۱/۶۷).

ددي دوه وجهي دي:

١ دمخکې زماني مشرکینو صرف دخوشحالۍ په وخت کښي دشرک ارتکاب کولو، او ملائکو او بزرګانو، بتانو ته متوجه کیدل.

٢ دمخکنۍزماني مشرکینو دالله تعالی سره دهغه مقرب بندګان شریکول، لکه انبیاء، ملائک، او بزرګان شو، اویا هغه مخلوق چه دالله تعالی نافرماني نه کوي لکه کاڼي بوټي وغیره شو، او هر چه ددي زماني مشرکین دي، دوي دالله تعالی سره هغه انسانان شریکوي، کوم چه دټولونه لوي فاسقان فاجران وي، حتی چه دوي ورباندي هم دا قرارکوي چه دا زنا کار او غله دي، او لمونځونه نه کوي(١).

بیا مصنف رحمه الله دقراني ایت مبارکه نه دا استدلال اوکړو چه مخکنو مشریکینو صرف په حالت دخوشحالۍ کښي دشرک ارتکاب کولو، اوپه سختیو کښي صرف الله تعالی ته متوجه کیدل. دالله تعالی ارشاد دی:

﴿ فَإِذَا رَكِبُوا۟ فِى ٱلْفُلْكِ دَعَوُا۟ ٱللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ فَلَمَّا نَجَّىٰهُمْ إِلَى ٱلْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ ﴾ [العنکبوت: ٦٥]

هرکله چه دوي سواره شي په کشتۍ کښي رابلي دوي الله تعالی لره اخلاص کوي دهغه په بلنه کښي پس هرکله چه بچ کړي دوي لره اوچي ته دغه وخت دوي شریک جوړوي دالله تعالی سره.

---

(١) کشف الشبهات: (٢٩-٣٠).

ابن کثير رحمه الله فرمايي. الله تعالی دمشرکينو په باره کښي دا خبر ورکړيدی چه هغوي به دتکليف او مصيب په وخت کښي صرف الله تبارک وتعالی ته متوجه کيدل او هيڅ قسم شرک به يي نه کولو، ليکن دا کار دوي هميشه ولي نه کولو، دمحمد بن اسحاق رحمه الله نه نقل دي، چه دعکرمه بن ابي جهل رضی الله عنه بيان دی، کله چه رسول الله صلی الله عليه وسلم مکه فتحه کړه نو دا د مکه نه بهر ووته ا وتښتيده کله چه په کشتۍ کښي سور شه ددي لپاره چه حبشي ته لاړ شي، نو دسمندر په مينځ کښي کشتۍ په چپو شوه، او په کشتۍ کښي سورو کسانو وويل، ای خلکو په اخلاص سره خپل رب الله تبارک وتعالی ته متوجه شي ځکه چه دهغه نه علاوه بل هيڅوک ددي مصيبت نه نجات اوخلاصون نشي ورکولاي عکرمه رضی الله عنه فرمايي: چه ما غور سوچ او فکر اوکړو چه هرکله په سمندر کښي دالله تعالی نه علاوه بل هيڅوک د نجات او خلاصی والا نشته، نو په اوچه کښي هم دالله تعالی نه بغير بل هيڅوک نجات او خلاصون نشي ورکولاي، بيا ما وويل: ای الله تعالی که تا ماته ددي مصيبت نه نجات راکړو نو زه له تاسره دا وعده کووم، چه زه به خامخا ځم او خپل لاس به دمحمد صلی الله عليه وسلم په لاس کښي ورکوم، او هغه ډير مشفق او نرم زړی دی، بيا همغسي وشول[۱] .

دمحمد بن عبد الوهاب رحمه الله د دور په تيريدوسره، او نوي دور په راتلوسره، او همدارنګه دمخکني صورتحال دتريدونه بعد آيا څوک دا

(۱) تفسير القران العظيم: (٤/٤٠٦).

ګمان کولاي شي چه شرکي عقاید ددغي خلکو په مرګ سره هم دفن شویدي او اوس شرکي عقاید نشته؟ نه هیرګیز داسي نده بلکه شرکي عقاید اوس هم شته، او دا یو داسي حقیقت دی، چه وضاحت او دلیل ته ضرورت نلري، بلکه دا دروښانه ورځ په شان واضحه ده،

❁ ښنګه به صحیح شي په دماغو کې یوڅیز❁

❁ روښانه ورځ چه هم محتاجه شي دلیل ته ❁

په اسلامي مملکتونو کښې دبعضي مقبرو او زیارتونو او همدارنګه دجشن میلاد (پیدائش) په لیدلو سره به تاته ښه واضحه شي، چه ددي خلکو زړونه د مړوسره څومره ژور متعلق دي او دتکلیف او پریشاني په وخت کښې ددغه مړونه مدد غواړي

❁ شکایت کوو الله ته ناشنایي ددین او دهدی ❁

❁ ورکیدل ددین په مابین د هغه چا ❁

❁ کښې چه ګرځي په ماښام اوپه صبا ❁

❁ دین ناشنا راواپس شو دوباره ❁

❁ لکه ښنګ چه شروع شوی وو ناشنا ❁

❁ باید ودي ژاړي ددین په باره ❁

❁ علماء خاوندان دعلم ا وتقوی ❁

دا د عامو حالت دی، او په دي خبره کښې تعجب نشته چه داسي خلک هم شته کوم چه دويته دابو جهل او ابولهب دين مزين او ښايسته کوي، او داسي وايي:

چاچه د نبي ياولي بزرګ په قبر باندي دعاجزۍ او تواضع مظاهره اوکړه او دهغه نه يي وسيله طلب کړه نو داسي نه ويل کيږي چه دي شخص شرک اوکړو او دغيرالله عبادت يي اوکړو، ځکه چه صرف (ندا) (استغاثه) (خوف) او.

(اميد) ته شرعي عبادت نه ويل کيږي، اګر که دلغت په لحاظ سره ديته عبادت وايي، خو ددعا ټول قسمونه عبادت ندی، مګرکه مونږ دوي (بزرګانو) ته اوازونه کوو په دي عقيده چه دوي د ربوبيت دصفاتو مالکان دي[1].

آيا دا خبره ديو عام مسلمان کيدي شي علاوه لا داچه داسي شخص داخبره وکړي چه هغه دعلماو طرف ته منسوب وي؟ آيا (تواضع او عاجزي) (استغاثه) (خوف او اميد) او (دعا) شرعي عبادت ندی؟

آيا دا شخص نه پوهيږي چه دا عبا دات قلبيه د ايمان اصول دي او ددين بنياد دی او د اعضاو جوارحو دعمل اساس دی او دا عبادات په ټولو مخلوقاتو باندي فرض دي کوم چه مکلف دي په اتفاق دعلماو سره؟ الله تبارک وتعالی فرمايي:

(۱) التنديد بمن عدد التوحيد: (۲۵).

﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدۡعُونِيٓ أَسۡتَجِبۡ لَكُمۡۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسۡتَكۡبِرُونَ عَنۡ عِبَادَتِي سَيَدۡخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ [غافر ٦٠]

ویلي دي رب ستاسوحاجتونه غواړي زمانه زبه پوره کوم حاجتونه ستاسو یقینا هغه کسان چه لو یږي کوي دد عا زمانه زرده چه داخل به شي جهنم ته ذلیلان به وي. په بل ځاي کښې الله تعالى فرمايي:

﴿إِذۡ تَسۡتَغِيثُونَ رَبَّكُمۡ فَٱسۡتَجَابَ لَكُمۡ أَنِّي مُمِدُّكُم بِأَلۡفٖ مِّنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ مُرۡدِفِينَ﴾ [ألأنفال: ٩]

کوم وخت چه فریادکوو تاسو رب خپل ته، پس قبوله یې کړه دعا ستاسو چه زه امداد کوم ستاسو سره په زر (١٠٠٠) دملائکو نه چه راځي به یوبل پسي، او همدارنګه الله تعالى فرمايي:

﴿فَمَن كَانَ يَرۡجُواْ لِقَآءَ رَبِّهِۦ فَلۡيَعۡمَلۡ عَمَلٗا صَٰلِحٗا وَلَا يُشۡرِكۡ بِعِبَادَةِ رَبِّهِۦٓ أَحَدَۢا﴾

[الکهف: ١١٠]

نوڅوک چه امید لري دپیش کیدلو رب خپل ته نو عمل دي کوي دسنت برابر او شریک د نه جوړوي په بندګۍ درب خپل کښې هیچالره. په یو مقام کښې الله تعالى فرمايي:

﴿فَلَا تَخَافُوهُمۡ وَخَافُونِ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ﴾ [ال عمران: ١٧٥]

پس مه ویریږي دهغوي نه او اویریږي ځمانه ځکه چه تاسو مؤمنان يي. الله تعالى فرما یلي دي:

﴿إِنَّهُمۡ كَانُواْ يُسَٰرِعُونَ فِي ٱلۡخَيۡرَٰتِ وَيَدۡعُونَنَا رَغَبٗا وَرَهَبٗاۖ وَكَانُواْ لَنَا خَٰشِعِينَ﴾ [ألأنبياء: ٩٠]

يقينا دوي به وو چه کوشش به يي کولو په ټولو نيکو کارونو کښې او حاجتونه يي غوښتل زمانه مينه کونکي او ويره کونکي وو او وو دوي مونږ ته عاجزي کونکي.

دقبر برستو متعلق ددينه رشتنې خبره دبل چا کيدي شي؟ ډير کرته د انسان په زړه کښې يوڅيز پټ وي اودا انسان ورباندي نه پوهيږي او همدارنګه دانسان په زړه کې يو ه مخفي عقيده وي او دا دهغې احساس نه کوي، ددې ښکاره مثال قبر پرست دي، کوم چه د خپلو حاجتونو دحاصلولو لپاره په قبرونوکې ددفن شوي مړوته درخواستونه کوي، او دي دفن شوي مړو ته داسي عاجزي کوي اوله دوينه دعاګانې غواړي، لکه څنګه چه الله تبارک وتعالی ته تضرع او عاجزي کيديشي، اوچه کله دوي ته څوک په دي باندي تنبيه ورکړي، نو دوي وايې چه مونږ خو ددي مړو عبادت نه کوو، بلکه مونږ خو صرف له دوينه شفاعت او سيله طلب کوو، او ددوي په وجه باندي مونږ الله ته تقرب (نيزديکت) حاصلوو، ليکن په حقيقت کې ديو معبود دعبادت لوي مظهر هغه دادی، چه بنده دهغه مخامخ په ډيره عاجزی اوتضرع سره ودريږي، او دهغه نه مددونه غواړي،

ددي وجي نه داقبر پرست په حقيقت کې ددي دفن شوي مړو بندګې کوي، ليکن دوي په دي حقيقت نه پوهيږي، او نه ددي احساس کوي، الله سبحانه وتعالی هيڅ يو داسي قوم نه خوشبخته کوي کوم چه دتکليف او مصيبت په وخت کښې دالله سبحانه وتعالی نه مخکې کاڼو او ونو بټو ته توجه کوي او دهغې نه حاجتونه تري غواړي.

تاسو خو سحر او ماښام دا وایي، چه دسلفو په تابعدارۍ کښې هرقسمه خیردی، او دخلفو دبدعاتو په تابعدارۍ کښې هرقسمه شر او فساد دی، نو ایا سلفو قبرونه چونه (پخول) ایا سلفو قبرونه الله ته وسیله کول، آیا سلفو درسول الله صلی الله علیه وسلم قبر نه یا دصحابه کرامو دقبرونو نه حاجتونه غوښتلي دي، آیا په سلفوکښې چا درسول الله صلی الله علیه وسلم یا دصحابه کرامو دقبرونونه حاجتونه غوښتلي دي، آیا رفاعي، دسوقي، جیلاني، او بدوي، دالله تعالی په نیز باندي دانبیاو رسولانو اوصحابه کرامونه، ډیرمقرب دي آیا رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دتصویرونو اومجسمو جوړولونه منعه کړیده نودا هسي لوبه اوتماشه ده که نه بلکه دامنعه یي ددي وجي نه کړیده چه په دي امت کښي دجاهلیت شرک واپس رانشي؟

په تصویرونو مجسمو او مزارونو قبرونوکښي څه فرق؟ هرکله چه داهریو دشرک باعث ګرځي، او عقیده دتوحید بربادوي[١].

## دڅلورم اصل اوقاعدي دشرحي خلاصه

ددي دور اوزماني مشرکان دمخکني دور دمشرکانونه ډیر سخت دي په شرک کښي.

دقبرونونه مددونه غوښتل اودا قبرونه وسیله جوړول به ترهغي پوري باقي وي ترڅو پوري چه هغه خلک موجودوي کوم چه داخبري ښایسته کوي

---

(١) النظرات لمصطفى المنفلوطي: (٨١- ٨٥).

او دي طرف ته دعوت ورکوي، اوباطل دحق په جامه کښې خلکو ته پيش کوي.

دالله تعالی په فضل کرم سره د توحيد په کښې څلور بنيادي اصولو اوقواعدو باندي مشتمله دارساله اخر ته ورسيده.

والحمدلله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين، نبينامحمد وعلى آله وصحبه أجمعين.



IslamHouse.com

islamhouseps IslamHousePs IslamHousePs islamhouse.com/ps/

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM

contact us :Books@guidetoislam.com

GuidetoIslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة
هاتف: ٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+ فاكس: ٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧
ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH
P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

# د توحید په وضاحت کښي څلور بنیادي اصول

دا کتاب دتوحید باره کښي په ډیرو مهمو بحثونو مشتمل دی چه دتوحید اهمیت او دهغي حقیقت په کې ښه واضح شویدی.




IslamHouse.com

Osoul Center
www.osoulcenter.com
مركز أصول